


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : بګهت کبیر

مترجم : عبدالباري جهاني

خپرندوی : نارنج خپرندویه ټولنه، کندهار

دچاپ کال : ۱۳۸۴ ل

تیراژ ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوز/ ډیزاین :عبدالحمید ترابي

دخپرولو لړی : ۹

د بګهت کبیرد کتاب د چاپ ټوله حقوق د خپروونکي اودانلائن حق ئې یوا ځي د بېنوا پاڼي سره محفوظ دي، نوري ویب پاڼي ددې کتاب شعرونه د ماخذ په ښوولو کاپي کولای شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کبیر فکر او عصر

کبیر د هند له هغو لويو صوفي شاعرانو څخه دی چي د هند د ادبياتو د تقريباً ټولو څېړونکو او ليکوالانو غوږونه يې له نامه، ژوند، افکارو او اشعارو سره آشنا دي. خو موږ ته د ده په قلم ليکلي اشعار او آثار پاته نه دي، او څه شعرونه چي هغه ته منسوب دي هغه ټول د ده له وفات څخه لږ يا ډېر کلونه وروسته د هغه پيروانو ليکلي او يا سينه پر سينه نقل کړي دي. طبيعي خبره ده چي په دې صورت کي به ډېر زيات، حتی په سلګونو شعرونه هېر سوي او ورك سوي وي او دغه راز به ډېر شعرونه نيمګړي سوي، پيوند سوي او يا حتی په بشپړه توګه بل چا ليکلي او کبير ته منسوب کړي وي.

د کبير ژوند تقريباً ټول په تياره کي دی؛ نه د هغه د زېږېدني کال او حتی لسيزه چاته په دقيق ډول معلومه ده، نه يې د وفات کال او ځای چا ته معلوم دی او نه دا په دقيقه توګه معلومه ده چي هغه خپل ژوند چېري تېر کړی او اصلاً چېري زېږېدلی دی. تر ټولو په زړه پوري خبره لا دا ده چي د هغه مذهب هم چا ته معلوم نه و او تر وفات وروسته مسلمانانو غوښتل چي هغه خاورو ته وسپاري او هندوانو غوښتل چي هغه وسوځي.

د کبير د ژوند په باب معلومات زياتره له هغو افسانو څخه تر لاسه سوي دي چي د هغه مريدانو او پيروانو يا جوړي کړي يا اورېدلي دي.

د دبستان المذاهب ليکوال هغه بېراکيانو ته منسوبوي او وايي چي بېراك په لغت کي طلب ته وايي او دا هغه ډله ده چي دنيا يې ترك وهلې او عبادت يې هغه بيتونه دي چي د بشن او د هغه مظاهرو ته، چي رام او کرشن او د هغه امثال دي وقف سوي دي.

بل ځای ليکي چي کبير جولا نژاد د هند له مشهورو موحـــدانو څخه دی او هغه

يو بېراکي و.

د کبير د ژوندانه په باره کي پر دې يوه حقيقت باندي اکثر څېړونکي موافق دي چي وايي هغه د پنځه لسمي پېړۍ په شا وخوا کي په بنارس کي ژوند کاوه او يو جولا و.

ډېر محققين د کبير د ژوند د تاريخي پېښو په ارتباط دې نتيجې ته رسېدلي دي چي د هغه د زېږېدني کال به 1425 او د وفات کال به يې 1505 وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چي کبير به کله زېږېدلی او کله وفات سوی وي او په ژوند کي به يې نور څه ورته پېښ سوي وي، زموږ د بحث موضوع نه ده، بلکه موږ زياتره غواړو چي د هغه د اشعارو يا سرودونو پر موضوع او دغه راز د دغو سرودونو پر اجتماعي ضرورت باندي وږغېږو.

کبير په داسي زمانه کي ژوند کړی دی چي د هند په پراخ هيواد کي د

راجه گانو او جاگيردارانو تر منځ داخلي خونړي جنگونه روان وه او د مسلمانانو د پاچا سلطان سکندر لودي (1489_1518) قلمرو د هند تر جنوبي سيمو پوري پراخ سوی و. د هندوانو او مسلمانانو تر منځ په جنگونو کي داسي خونړۍ پېښي کېدلې چي کله_کله او حتی زياتره وختونه به يې د عام قتل او لوټ او تالان شکل واخيست. کلي او ښارونه به وسوځول سول، کښتونه او کروندې به د آسونو تر پښو لاندي سوې، په زرگونو سرونه به ورغړېدل، په زرگونو ښځي به کونډې او بې عزته سوې او ښارونه به له يتيمانو، معيوبينو او گدايانو څخه ډك سول. د کبير په څېر حساسو بشر دوستو شاعرانو او مذهبي مشرانو په هغو شرايطو کي د مذهبونو او قمونو تر منځ د نيژدې والي او يو والي تبليغ کاوه. کله به يې دا خونړۍ پېښي غندلې او کله به يې يوازي اوښکي ورته تويولې. د کبير د مرشد رامانندا په څېر جوگيانو او مذهبي مشرانو به ويل چي ټول جهان يوه خالق پيدا کړی دی او هغه د ټولو مذهبونو مرجع او د سجدو طرف دی. په دې مشرانو او شاعرانو کي د کبير آواز تر ټولو لوړ و، او ځکه يې هم د مسلمانانو او هم د هندوانو په زړونو کي ځای نيولی او هم يې تر اوسه پوري شعرونه د سيکهانو په مقدس کتاب "ادي گرنت صاحب" کي قيد دي. کبير د خپل وخت تر ټولو حساس شاعر و او پر هغو مذهبي مشرانو يې په ډېر زړورتوب حملې کولې چي په ټولنه کي يې د انسانانو تر منځ د بې اتفاقۍ او انسان وژني اورونه بلول او د هغوی د تبليغاتو له امله کورونه او ښارونه د نفرت په اور کي سوځېدل .

له هغي تاريخي کيسې څخه، چي په اکثرو تاريخي آثارو کي د کبير د ژوند په ارتباط اشاره ورته کېږي، ښکاري چي کبير پخپله د سلطان سکندر سره کتلي هم دي او يا يې لږ تر لږه د هغه د دربار د عدالت مزه څکلې ده. ويل کېږي چي کبير يو وخت د يوه داسي ناروغ علاج وکړ چي طبيبان يې له علاج څخه عاجزه وه، او دې کار ځيني مذهبي مشران دې ته راوستل چي هغه د سلطان سکندر دربار ته معرفي کړي او د جادوگر او کافر تورورباندي ولگوي. سلطان سکندر لودي، چي پخپله يو عالم او عادل پاچا و د کبير په څېر بې آزارو مذهبي مبلغينو او پيرانو سره کار نه درلود، ځکه يې نو له هغه سره غرض ونه کړ. البته کبير يې د ټولنيزي سولي د ساتلو په منظور له بنارس څخه تبعيد کړ او په دې توگه له مرگه خلاص سو. داسي ښکاري چي دا پېښه په کال 1495 کي سوې وي او ويل کېږي چي کبير په دغه وخت کي شپېته کلن و. د دغي پېښي څخه پرته د ده د ژوند په ارتباط کومي تاريخي پېښي ته اشاره نه ده سوې، او چي د ده د ژوند د حالاتو په باب څه ويل سوي دي نو سرچينه يې زياتره هغه افسانې دي چي چنداني تاريخي ارزښت نه لري او که څوك د هغه د زېږېدلو او يا وفات د کلونو په اړه اټکلونه کوي نو زياتره له سلطان سکندر سره د هغه د مخامخ کېدلو په دغه تاريخي کيسه استناد کوي. کبير له دغي پېښي څخه وروسته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بنارس پرېښودلو ته مجبور سوی او د هند په شمال کي په کليو او بانډو گرځېدلی او خپلو تبليغاتو او خپل حقيقي او دايمي معشوق ته يې د شعرونو ليکلو ته دوام ورکړی دی.

کبير نه يوازي ټول انسانان يو شان بلل، هغه نه يوازي يوه ستر خالق ته عقيده درلوده بلکي ټول کاينات ورته يو شان ښکارېدل او بالآخره يې د وحدت الوجود د فلسفې په پيروي، چي هم يې په اسلام او هم يې په هندو مذهب کي سوونه کلونه سابقه درلوده د کايناتو او ستر خالق تر منځ سرحدونه ماتول.

اوبه غونډي سي يخی ورنه جوړيږي

يخی بيرته اوبه کېږي چي ويلېږي

صرف اوبه دي بدلوي چي خپل شکلونه

نور په داسي حقيقت کي څه ځايېږي

چي د سيند اوبه کوبۍ دي رااخيستي

کوبۍ ټولي په اوبو کي حسابېږي

سيند پخپله له کوبيو سره درومي

د ناپايه سمندر کوگل ته لوېږي

په يوه سترگه چي ټول انسانان گوري

لوی جهان چي ورته يو شاني ښکارېږي

دی پخپله هسي صاف لکه قطره سي

او په لايتناهي کي ورگډېږي2

اوبه غونډي سي يخی ورنه جوړيږي

يخی بيرته اوبه کېږي چي ويليږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صرف اوبه دي بدلوي چي خپل شکلونه

نور په داسي حقيقت کي څه ځايېږي

چي د سيند اوبه کوبۍ دي رااخيستي

کوبۍ ټولي په اوبو کي حسابيږي

سيند پخپله له کوبيو سره درومي

د ناپايه سمندر کوګل ته لوېږي

په يوه سترګه چي ټول انسانان ګوري

لوی جهان چي ورته يو شاني ښکارېږي

دی پخپله هسي صاف لکه قطره سي

او په لايتناهي کي ورګډيږي

د مذهبونو د جنګونو او وينو تويولو څخه يوازي کبير شکايت نه دی کړی، بلکي دې خبري هم له ده نه پخوا ډېره زياته سابقه درلوده او هم يې له ده څخه وروسته حتی تر نن ورځي پوري د شاعرانو او پوهانو په شعرونو او افکارو کي انعکاس کړی دی. د پښتنو تر ټولو لوی شاعر او مشر خوشال خان خټك نه يوازي صوفي شاعر نه و، بلکي پخپله يې د جنګونو په ميدان کي آسونه ځغلولي او توري چلولي دي. خو کله چي د مذهبونو تر منځ د بې اتفاقۍ مسئلې ته راځي نو دی هم د کبير او د هغه د مرشدانو او پيروانو په څېر په ډېر صراحت خپله چيغه پورته کوي.

څوك په لوري د کعبې ځي په هی هی

څوك ديورې لره چلېږي په جی جی

عاشقان يې سل هزار يوه معشوقه

په هر لوري ورپسې دي په پی پی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



میخانه یوه هزار پکي خمونه

د مستانو یې نارې دي چې مې مې

که همای دی که کجیر دی که کرگس دی

د هر چا مي خپل_خپل شان دی خپل قی قی

هر څوك وصل د خپل اصل پسې غواړي

چې نارې د جدايي وهي نی نی

زه خوشال چې د وحدت په میو مست شوم

وایم دا چې کاووس کله وو کی کی

څوك په لوري د کعبې ځي په هی هی

څوك دیورې لره چلېږي په جی جی

عاشقان یې سل هزار یوه معشوقه

په هر لوري ورپسې دي په پی پی

میخانه یوه هزار پکي خمونه

د مستانو یې نارې دي چې مې مې

که همای دی که کجیر دی که کرگس دی

د هر چا مي خپل_خپل شان دی خپل قی قی

هر څوك وصل د خپل اصل پسې غواړي

چې نارې د جدايي وهي نی نی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خوشال چي د وحدت په میو مست شوم

وایم دا چي کاووس کله وو کی کی

البته کبیر یوازي د مذهبونو تر منځ د اتحاد او ټولو دپاره د یوه خدای د وجود په عادي تبلیغ اکتفا نه کوله بلکي د مذهبونو پر هغو مشرانو او پیروانو یې ډېري برالا حملې کولې چي د مذهب په جامه کي یې یا د خلکو تر منځ د نفاق اور بلاوه او یا یې له خرقې او مذهبي لباسونو څخه د خلکو د غولولو دپاره کار اخیست.

جوګي خپل کالي جوګي خپل کالي غوټه کړي په رنګونو

رنګ د میني ولي نه وړي تر مغزونو

د معبد په کونج کي کښېني خالق پرېږدي

د ډېري سي لګیا په طاعتونو غوټه کړي په رنګونو

په غوږونو کي سوري جوړ کړي اوږده ږیره

ټول ملګري د اوزګړي په شکلونو

خواهشات وژني له ځانه ایجړا جوړ کړي

لېونی غوندي به ګرځي پر دښتونو

سر خریلی جامې رنګ پر کتاب پروت وي

تېز تر هر چا په خبرو بیانونو

کبیر وایي دروازو ته د مرګ ولاړې

ورته پروت یې په تړلو پښو لاسونورنګ د میني ولي نه وړي تر مغزونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معبد په کونج کي کښېيني خالق پرېږدي

د ډېري سي لگيا په طاعتونو

په غوږونو کي سوري جوړ کړي اوږده ږيره

ټول ملګري د اوزګړي په شکلونو

خواهشات وژني له ځانه ايجړا جوړ کړي

لېونی غوندي په ګرځي پر دښتونو

سر خريلی جامې رنګ پر کتاب پروت وي

تېز تر هر چا په خبرو بيانونو

کبير وايي دروازو ته د مرګ ولاړې

ورته پروت يې په تړلو پښو لاسونو

د کبير د شعرونو يو مزيت په دې کي دی چي ډېر پر له پېچلي تصوفي مفاهيم يې په دونه ساده ژبه او ساده مثالونو بيان کړي دي، او د کايناتو له پيدايښت، حرکت او هدف څخه نيولې د کايناتو تر عمق او ماهيت پوري مغلق مسايل يې په دونه ساده کلماتو افاده کړي او جوابونه ورته پيدا کړي دي، چي د هر صوفي شاعر او فيلسوف دپاره يې افاده دونه اسانه کار نه دی. د هغه دغه سادګي ده چي د خلکو په زړونو کي يې ځای نيولی او په مقابل کي يې د رياکارو زاهدانو او بامبړانو د غشيو هدف ګرځولی دی.

کبير د نورو تقريباً ټولو صوفيانو په څېر د حيرت مقام ته ورغلی، خو داسي ښکاري چي دی ورڅخه تېر سوی دی او دا کمال هم د خپل مرشد او پير ګڼي. دی وايي چي دا اسرار هر چا ته نه سي معلومېدلای او په دې اسرارو پوهېدل يوازي د هوښيارانو کار دی. البته هغه معلومات چي دی يې د خپل کشف په باره کي موږ ته راکوي پخپله دونه مرموز دي چي سړی پخپله کبير هم د حيرت په مقام کي سرګردان بللای سي.

له رباب څخه مرموز موزيك ږغېږي

بېله پښو له رباب څخه مرموز موزيك ږغېږي

بېله پښو او بې لاسونو څوك نڅېږي او بې لاسونو څوك نڅېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېله ګوتو يې آواز کوي تارونه

بې بېله ګوتو يې آواز کوي تارونه

بې غوږونو يې نغمه اورېده کېږي

او دا ځکه چي که غوږ دی ټوله دئ دی

اورېدونکی هم پخپله دئ هستېږي

ور ترِلی دی دننه خوشبويي ده

او دننه هيڅ وجود نه معلومېږي

هر څوك نه دی د دې سِر د پوهېدلو

دا يوازي هوښياران دي چي پوهېږيغوږونو يې نغمه اورېده کېږي

او دا ځکه چي که غوږ دی ټوله دئ دی

اورېدونکی هم پخپله دئ هستيږي

ورترِلې دي دننه خوشبويي ده

او دننه هيڅ وجود نه معلوميږي

هر څوك نه دی د دې سِر د پوهېدلو

دا يوازي هوښياران دي چي پوهېږي

کبير د خپل عمر تر پايه پوري، چي ويل کېږي اتيا کلونه ته رسېدی، خپله ډوډۍ د خپل کسب او کار په زور لاسته راوړه او تر مرګه يې له جولاګرۍ څخه، چي د عمر په پای کي طبيعي خبره ده چي ډېره به سخته ورته تمامېدله، لاس وانه خيست. نه په خلوت کي کښېناست، نه يې د مريدانو او پيروانو په صدقو او خيراتونو ژوند وکړ، او نه يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ته د احتیاج لاس اوږد کړ. ګواکي غوښتل يې چي د ده خپل ژوند د پیروانو دپاره یو سمبول وګرځي، او چي څوك غواړي د ده لاره تعقیب کړي نو د ده په څېر ژوند غوره کړي.

کبیر خپله لاره د حق لاره بلله، او دا يې د لاسونو په تڼاکو ثابتوله. یوازي خپل ګورو او مرشد يې پر حق باله او نور خلك يې هم دغلي لاري ته رابلله. د کبیر خدای تر مسجد او بتخانې دواړو برتر اوسېږي او کله_کله خو لوی خالق ته د خپل ګورو او مرشد خطاب کوي، او داسي ښيي چي ګویا دی پخپله د خالق پیرو دی.

که خالق دی په محراب کي یا مسجد کي کښېنستلی

نو دي پراخ جهان یارانو تعلق چا سره نیولی

او که رام په درمسال کي د بت څېټه کي اوسېږي

څه خبر دی چي د باندي په جهان کي څه پېښېږي که خالق دی په محراب کي یا مسجد کي کښېنستلی

نو دي پراخ جهان یارانو تعلق چا سره نیولی

او که رام په درمسال کي د بت څېټه کي اوسېږي

څه هري اوسي لمر خاته کي الله اوسي لمر لوېده کي

ځه کریم او رام پیدا که پسي وګوره په زړه کي

نر او ښځي په نړۍ کي ټول د ده لري شکلونه

زه کبیر مرید د رام یم د الله کړم طاعتونه خبر دی چي د باندي په جهان کي څه پېښېږي

هري اوسي لمر خاته کي الله اوسي لمر لوېده کي

ځه کریم او رام پیدا که پسي وګوره په زړه کي

نر او ښځي په نړۍ کي ټول د ده لري شکلونه

زه کبیر مرید د رام یم د الله کړم طاعتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خالق چي کبير عقيده ورته لري هغه تر ټولو مخلوقاتو برتر او په ټولو مخلوقاتو کي دننه اوسي. هغه تر ټولو ستر خدای، دايمي او مطلق قادر دی. هغه بلا کيفه دی، هغه ذات ته نقصان نه رسېږي، او نه يې ذات تغير کوي. هغه نه پورته دی نه کښته. هغه دايمي دی او پر ټولو شيانو محيط دی. هغه د خپلو اولياوو په زړونو کي د دنيا د عشق او محبت لمبې وژني او بيا نو د تل دپاره د هغوی په زړونو کي ځای نيسي. يوازي هغه څوك کامل دی چي په زړه کي يې تنها خالق ته ځای ورکړی دی.

يوازي مذهبي اختلافات او د دغو اختلافاتو له امله جګړې او ويني تويېدل نه وه چي د کبير حساس روح ته يې آزار ورکاوه، بلکي د هند د ټولني طبقاتي وېش او ظالمانه تقسيم لا يو بل آفت و چي د کبير په څېر هوښيارو او خوله ورو مفکرينو او شاعرانو يې تحمل نه سو کولای. د کبير پير او مرشد رامانندا د برهمن له طبقې څخه، چي د هند تر ټولو عالي طبقه وه، د اعتراض رغ پورته کړ او د برهمنانو د ټولو عنعناتو او احکامو په خلاف يې کبير، چي د هند تر ټولو ټيټې طبقې اچوت غړی و، په خپلو مريدانو کي شامل کړ، او حتی د برهمن خطاب يې ورته وکړ.

کبير پخپله د اچوت له طبقې څخه د اعتراض رغ پورته کړ. دا هغه طبقه ده چي د هند عالي طبقات، برهمن يعني مذهبي مشران، کشاتريا يعني عسکر او جنګيالي، ويسيا يعني تاجران او حتی څلورمه طبقه شودرا يعني دهقانان او کروندګر له هغوی سره د تماس نيولو او نيژدې کېدلو څخه منع وه، او د نجس په سترګه ورته کتل کېدل. د سيکه مذهب موسس ګورو نانك هم د هند د ظالمانه طبقاتي سيستم پر ضد رغ پورته کړ او توصيه يې کوله چي د توکم او نژاد خبري پرېږده، عجز اختيار که او نجات پيدا که.

بل ځای وايي خدای به له انسانانو څخه د اصل او نسب پوښتنه ونه کړي، بلکه د هغه د اعمالو پوښتنه به کوي . بل ځای وايي که څوك هر څونه د عالي نسب خاوند خو په ګناه لړلی او ناپاك وي زه به په هغه کي ری ونه وهم، خو نانك د هغه چا د پښو خاوري دی چي په اصل او نسب تر ټولو پاته او په عمل کي نېك او پاك وي.

د سيکهانو دريم ګورو امرداس په ادي ګرنت کي ليکلي دي:

ټوله وايي چي نړۍ کي دي پيدا څلور توکمونه

خو د ټولو ټوله وايي چي نړۍ کي دي پيدا څلور توکمونه

خو د ټولو دي پاشلي هغه لوی برهمن تخمونه

جهان ټول جوړ دی له خاورو که يې غرونه که دښتونه

له يوې خاوري پيدا دي ټوله لوښي ټول رنګونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي خالق دي پيدا نه کئ بله لار د نجات نسته

نانك وايي چي قضا ته وروړل کېږي عملونه

له پنځو عنصرو جوړ دي انسانان له سر تر نوکه

پکښي څنګه څوك پيدا کړي کښته پورته مقامونه4

دي پاشلي هغه لوی برهمن تخمونه

جهان ټول جوړ دی له خاورو که يې غرونه که دښتونه

له يوې خاوري پيدا دي ټوله لوښي ټول رنګونه

چي خالق دي پيدا نه کی بله لار د نجات نسته

نانك وايي چي قضا ته وروړل کېږي عملونه

له پنځو عنصرو جوړ دي انسانان له سر تر نوکه

پکښي څنګه څوك پيدا کړي کښته پورته مقامونه

ګورو نانك (1469_1538) د کبير د يوه شاګرد او پيرو په حيث هم د کبير په څېر په داسي عصر کي ژوند کاوه چي ښارونه او کلي د زورورو د آسونو تر پښو لاندي او د غضب اورونو وچ او لانده ګډ سوځول. ګورو نانك د دغو وحشتونو، بې عدالتيو او نابرابريو پر ضد چيغه پورته کړه. د دې بې عدالتيو د ريښو ايستلو دپاره يې بل مذهب تاسيس کړ. د هند له شمال څخه په جنوب کي تر بنارس او وروسته تر سري لانکا پوري، په ختيځ کي له بنګال څخه په لوېديځ کي تر عراق او حجاز پوري يې سفرونه وکړل، او د ژوند ټولي شپې ورځي يې د اجتماعي او انساني عدالت د ټينګولو په تبليغ تېري کړې. مګر ګورو نانك د يوه مذهبي مشر په حيث نه پخپله توري ته لاس کړ او نه يې نور د توري اخيستلو ته تشويق کړل. بلکه بالآخره وايي چي دا د خدای حکم او فيصلې دي او د هغه د فيصلو په مقابل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي به څوك څه ووايي. گورو نانك په هند کي د پښتنو د سلطان ابراهيم لودي او د مغولو د پاچا بابر تر منځ د خونړيو جنگونو د شاهد په حيث وايي:

څه بې شمېره اخوندانو په دعاو په لمونځونو

په زاريو ننواتو معجزو او تعويذونو

خپل څه بې شمېره اخوندانو په دعاو په لمونځونو

په زاريو ننواتو معجزو او تعويذونو

خپل ځانونه کړله سترې په سجدو په خلوتونو

چي راوگرځوي مخه د فاتح د لښکرونو

سوځول چي يې کورونه بنگلې او لوی قصرونه

اميران چي يې وژله رغړول چي يې سرونه

نه مغول ړانده په سترگو نه يې پڅې سولې توري

نه دعاوو د پيرانو د دوی ميندي کړلې بوري

د جنگونو ميدان تود و د مغولو پټانانو

چلېدې په منځ کي توري د جگړې د جنگياليانو

له يوې خوا اورېدلې سرې سکروټې له توپونو

بل پلو ته به حملې وې د پوځونو د آسونوځانونه کړله سترې په سجدو په خلوتونو

چي راوگرځوي مخه د فاتح د لښکرونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوځول چي يې کورونه بنګلې او لوی قصرونه

اميران چي يې وژله د هغو چي ورځ پوره وي د خالق په لوی دربار کي

يا په جنګ کي وژل کېږي يا به مري په لويه لار کي

ارتينې سولې سرتوري د هندوانو د ترکانو

بې عزته سولې ښځې د بتپيو راجپوتانو

څوك بريان سول څوك ايرې سول په لمبو کي د کورونو

څه به حال و د مېرمنو چي يې شپې وې بې مېړونو

دا کارونه د خالق دي د هغه په حکم کېږي

چا ته څنګه شکايت کړو چي يې خپل امر چلېږي

که خوښې که بدمرغۍ دي ټولي ستا په اراده دي

اوس به چا ته کړو چيغاري ستا له زور سره مو څه دي

لوی سلطان پخپله خوښه روان کړي دي حکمونه

اې نانکه وررسېږي هر سړي ته نصيبونه

رغړول چي يې سرونه

نه مغول ړانده په سترګو نه يې پڅي سولې توري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دعاوو د پیرانو د دوی میندي کړلې بوري

د جنګونو میدان تود و د مغولو پټانانو

چلېدې په منځ کي توري د جګړې د جنګیالیانو

له یوې خوا اورېدلې سرې سکروټې له توپونو

بل پلو ته به حملې وې د پوځونو د آسونو

د هغو چي ورځ پوره وي د خالق په لوی دربار کي

یا په جنګ کي وژل کېږي یا به مري په لویه لار کي

ارتینې سولې سرتوري د هندوانو د ترکانو

بې عزته سولې ښځې د بټیو راجپوتانو

څوك بریان سول څوك ایرې سول په لمبو کي د کورونو

څه به حال و د مېرمنو چي یې شپې وې بې مېړونو

دا کارونه د خالق دي د هغه په حکم کېږي

چا ته څنګ شکایت کړو چي یې خپل امر چلېږي

که خوښې که بدمرغۍ دي ټولي ستا په اراده دي

اوس به چا ته کړو چیغاري ستا له زور سره مو څه دي

لوی سلطان پخپله خوښه روان کړي دي حکمونه

اې نانکه وررسېږي هر سړي ته نصیبونه

البته سیکهانو د تاریخ په یوه مرحله کي د اجتماعي او سیاسي جبر او تاریخي ضرورتونو له مخي پخپله هم تورو او وسلو ته لاس واچاوه او د دې جنګونو او عملونو او عکس العملونو په ترڅ کي یې داسي ظلمونه وکړل چي د هغوی لوی ګورو د هغو پر ضد چیغه پورته کړې او ځان او مریدان یې په تبلیغ ستړي کړي وه.

د هند د اجتماعي نابرابریو او په تېره بیا ظالمانه طبقاتي سیستم پر ضد د مبارزې نوبت بالآخره د هند د تاریخ تر ټولو محبوب مشر مهاتما ګاندهـي ته ورسېد. هغه د خپلو ټولو اجتماعي او سیاسي مبارزو په سلسله کي د اچوت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طبقې مشکل ته، چي راماننداء کبير، ګورو نانك او د هغوی په زرګونو پيروانو يې په ليري کولو ځانونه ستړي کړي وه، ښه متوجه وو. ګاندهي د اچوت طبقې ته، چي نورو يې له وجود او لباس څخه کرکه کوله او د نجس په سترګه يې ورته کتل، د هريجن يا د خدای د اولاد نوم ورکړ.

د دې لويې اجتماعي ستونزې د ليري کولو دپاره ښايي د هند په تاريخ کې د هيڅ مشر مبارزو د مهاتما ګاندهـي په څېر ژوره اغېزه نه وي ښندلې. خو دا مشکل تر اوسه لا حل سوی نه دی، او که کبير ژوندی وای زه يقين لرم چي اوس به يې هم شعرونه ورته ليکلای، او لا به هم په ښارونو او کليو ګرځېدلای.

**عبدالباري جهاني**

Majumdar, R.C Editor: The History and Culture of the Indian People. Fourth Edition 1990.

Cuningham, J.D. History of the Sikhs 1990.

Rizvi, Said Akhtar Abbas. A History of Sufism in India 1992.

فاني، محسن: دبستان المذاهب. تهران چاپ اول 1361هـ ش.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



1

THE Lord is in me, the Lord is in you, as life is in every seed. O servant! Put false pride away, and seek for Him within you.

A million suns are ablaze with light,

The sea of blue spreads in the sky,

The fever of life is stilled, and all stains are washed away; when I sit in the midst of that world.

Hark to the unstuck bells and drums! Take your delight in love!

Rains pour down without water, and the rivers are streams of light.

One Love it is that pervades the whole world, few there are who know it fully:

They are blind who hope to see it by the light of reason, that reason which is the cause of separation.

The House of Reason is very far away!

How blessed is Kabir, that amidst this great joy he sings within his own vesse1.

It is the music f the meeting of soul with soul;

It is the music of the forgetting of sorrows;

It is the music that transcends all coming in and all going forth.

جانان زما او ستا په زړو كي

جانان اوسي زما او ستا دواړو په زړو كي

لكه ژوند چي دی موجود ټولو دانو كي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې بنده راځه بېځايه غرور پرېږده

او د ننه يې پيدا که په رگو کې

بېحسابه په هوا گرځي لمرونه

شين درياب دی غوړېدلی اسمانو کې

چې په منځ کې د نړۍ کښېنم ښکارېږي

ننداره د دې جهان رامعلومېږي

د ژوندون تبه کراره ده سړېږي

ټولي ټپلي پرهولل سوي دي پاکېږي

راسه واوره بلا کيفه ساز ږغونه

ورته پرانيزه په مينه د زړه ورونه

ورته گوره بې اوبو باران اورېږي

په سيندونو کې د نور ويالې بهېږي

يوه مينه ده پر ټول جهان غالبه

نور چنداني د چا فکر نه رسېږي

O FRIEND, dear heart of mine, think well! If you love indeed, then why do you sleep?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



If you have found Him, then give yourself utterly, and take Him to you.

Why do you loose Him again and again?

If the deep sleep lf rest has come to your eyes, why waste your time making the bed and arranging the pillows?

Kabir says: "I tell you the ways of love! Even though the head itself must be given, why should you weep over it?"

زما يارانو چي د ژوند په راز پوهېږئ

زما يارانو زما دوستانو چي د ژوند په رمز پوهېږئ
که مو مينه په رښتيا وه نو په خوب ولي بيدېږئ

که جانان مو پيدا کړی ورتسليم يې سئ وصال ته
ولي بيرته بېلتون راسي له تاوان سره ستنېږئ

که مو سترګو ته راغلي د خوبونو دي پوځونه
دغه ځای دی بستر پرېږدئ د ډېر ناز څخه تېرېږئ

کبير وايي درښيمه د رينښتوني ميني لاري
که سرونه شکرانه کړئ لا به نه پښېمانه کېږئ.

THE month of March draws near: ah, who will unite me to my Lover?

How shall I find words for the beauty o f my Beloved? For He is merged in all beauty.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



His colour is in all the pictures of the world, and it bewitches the body and the mind.

Those who know this, know what is this unutterable play of the Spring.

Kabir says "Listen to me, brother there are not many who have found this out."

د پسرلي مياشت راورسېده

دا دی میاشت د پسرلي رانيژدې کېږي

د گلونو ډکي وني به غوړېږي

دا به ښوك وي چي مي وصل کي له ياره

تر جانانه به مي لاس ښنگه رسېږي

د جانان ښکلا به څرنگه ستايمه

چي هغه هره ښکلا کي ښرگندېږي

د نړۍ په هر تصوير کي د ده رنگ دی

غلبه يې پر وجود او زړه خپرېږي

د توصيف تر زور بهر د سپرلي لوبه

هغه چا ته معلومېږي چي پوهېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبیر وايي راته غوږ نیسئ یارانو

لږ کسان دي چي دا رمز ورمعلومېږي.

OH Narad! I know that my Lover cannot be far:

When my Lover wakes, I wake; when He sleeps, I sleep.

He is destroyed at the root who gives pain to my Beloved.

Where they sing His praise, there I live;

When He moves, I walk before Him: my heart yearns for my Beloved.

The infinite pilgrimage lies at His feet, a million devotees are seated there.

Kabir says: "The Lover Himself reveals the glory of true love."

زما جانان رانیژدې دی

واوره رنده زما جانان دی رانیژدې او زه پوهېږم

چي جانان ویښ وي زه ویښ یم چي بیده وي زه بیدېږم

څوك چي زما جانان آزار كي په ريښه كي تباه كېږي

چي د ده كېږي ستاینه په هغه ځای کي اوسېږم

د جانان د وصل اور مي په زړګي دی لګېدلی

چي دی ځي ورسره څمه هر قدم ورته درېږم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې حسابه انسانان يې تر زيارت پورې راغلي

د بقا د زيارت پښو کې پر سجده دي پرېوتلي

د جانان دغه يو راز دی چې کبير ته معلوميږي

د رېښتوني عشق لوی والی له جانانه ظاهرېږي

HANG up the swing of love to-day! Hang the body and the mind between arms of the Beloved, in the ecstasy of love's joy:

Bring the tearful streams of the rainy clouds to your eyes, and cover your heart with the shadow of darkness.

Bring your face nearer to His ear, and speak of the deepest longings of your heart.

Kabir says: "Listen to me, brother! bring the vision of the Beloved in your heart."

نن د مينې خيال وځنډوه

نن معطل کړه خيال د مينې د ټالونو

روح او ځان دې کړه آزاد له ځنځيرونو

نن د مينې د خوشبيو په مستۍ کې

ځان پيدا که د جانان پر مړوندونو

ورته راوله د سترګو تر محله

باراني ورېځيد اوښکو د رودونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه دي وپوښه په سيوري په تيارو کي

خوله نيژدې که و محبوب ته تر غوږونو

ورته وښيه وصال ته خپله تنده

ورته ژاړه د بېلتون له کړاوونو

کبير وايي د جانان په مينه پايه

ډولۍ ډکه زړه ته يوسه د خيالونو.

THE light of the sun, the moon, and the stars shines bright:

The melody of love swells forth , and the rhythm of love's detachment beats the time.

Day and night, the chorus of music fills the heavens: and Kabir says:

"My Beloved One gleams like the lightning flash in the sky."

Do you know how the moments perform their adoration?

Waving its row of lamps, the universe sings in worship day and night,

There are the hidden banner and the secret canopy:

There the sound of the unseen bells is heard.

Kabir says: "There adoration never ceases: there the Lord of the Universe sitteth on His throne."

The whole world does its works and commits its errors: but few are the lovers who know the Beloved.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The devout seeker is he who mingles in his heart the double currents of love and detachment, like the mingling of the streams of Ganges and Jumna;

In his heart the sacred water flows day and night; and thus the round of births and

deaths is brought to an end.

Behold what wonderful rest is in the Supreme Spirit! And he enjoys it, who makes himself meet for it.

Held by the cords of love, the swing of the Ocean of Joy sways to and fro; and a mighty sound breaks forth in song.

See what a lotus blooms there without water! And Kabir says:

"My heart's bee drinks its nectar."

what a wonderful lotus it is, that blooms at the heart the spinning wheel of the universe! Only a few pure souls know of its true delight.

Music is all around it, and there the heart partakes of the joy of the Infinite Sea.

Kabir says: "Dive thou into Ocean of sweetness: thus let all errors of life and of death flee away."

Behold how the thirst of the five senses is quenched there! And the three forms of misery are no more! Kabir says: "It is the sport of the Unattainable One: look within, and Behold how the moon-beams of that Hidden One shine in you."

There falls the rhythmic beat of life and death:

Rapture wells forth, and all space is radiant with light.

There the Unstruck Music is sounded; it is the music of the love of the three worlds.

There millions of lamps of sun and of moon

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



are burning.

There the drum beats, and the lover swings in play.

There love-songs resound, and light rains in showers; and the worshipper is entranced in the taste of the heavenly nectar.

Look upon life and death; there is no separation between them,

The right hand and the left hand are one and the same.

Kabir says: "There the wise man is speechless; for this truth may never be found in Vadas or in books."

I have had my Seat on the Self-poised One,

I have drunk of the Cup of the Ineffable,

I have found the Key of the Mystery,

I have reached the Root of Union.

Traveling by no track, I have come to the Sorrow less Land: very easily has the mercy of the great Lord come upon me.

They have sung of Him as infinite and unattainable: but I in my meditations have seen Hin without sight.

That is indeed the sorrow less land, and none know the path that leads there:

Only he who is on that path has surely transcended all sorrow.

Wonderful is that land of rest, to which no merit can win;

It is the wise who has seen it, it is the wise who has sung of it. This is the Ultimate Word: but can any express its marvelous savour?

He who has savoured it once, he knows what

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



joy it can give.

Kabir says: "Knowing it, the ignorant man becomes wise, and the wise man becomes speechless and silent,

The worshipper is utterly inebriated,

His wisdom and his detachment are made perfect;

He drinks from the cup of the in breathings and the out breathings of love."

There the whole sky is filled with sound, and there that music is made without fingers and without strings;

There the game of pleasure and pain does not cease.

Kabir says: "If you merge your life in the Supreme Land of Bliss."

What a frenzy of ecstasy there is in every hour! And the worshipper is pressing out and drinking the essence of the hours: he lives in the life of Brahma.

I speak truth, for I have accepted truth in life; I am now attached to truth, I have swept all tinsel away.

Kabir says: "Thus is the worshipper set free from fear; thus have all errors of life and of death left him."

There the sky in filled with music:

There it rains nectar:

There the harp-strings jingle, and there the

drums beat.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



What a secret splendour is there, in the

mansion of the sky!

There no mention is made of the rising and the setting of the sun;

In the ocean of manifestation, which is the light of love, day and night are felt to be one.

Joy for ever, no sorrow,--no struggle!

There have I seen joy filled to the brim, perfection of joy;

No place for error is there.

Kabir says: "There have I witnessed the sport of One Bliss!"

I have known in my body the sport of the universe: I have escaped from the error of this world..

The inward and the outward are become as one sky, the Infinite and the finite are united: I am drunken with the sight of this All!

This Light of Thin fulfils the universe: the lamp of love that burns on the salver of knowledge.

Kabir says: "There error cannot enter, and the conflict of life and death is felt no more."

د اسرارو پردې

د لمر سپوږمۍ او ستورو نور پرکېږي

اورېدل کېږي ترانې د مینې

او د هجران پر تال ږغېږي زمان

له اسمانو راځي نغمې د مینې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کبیر وایي زما محبوب ځلېږي

په اسمانو کي لکه نور بلېږي

پوهېږي څنګه یې ستاینه کوي

په کایناتو کي شېبې وختونه

خپل مشالونه ګرځوي او وایي

په شپه او ورځ د خپل خالق نومونه

هلته دی پټ بیرغ او پټه ډولۍ

او په تیاره کي پټ موزیك ږغېږي

د کایناتو څښتن ناست دی پر تخت

کبیره هلته ذکر نه ویدیږي

ټول کاینات دي په کارونو لګیا

خو ور نه ورکي د ژوندون لاري دي

چنداني څوك خپل محبوب نه پېژني

ورته تیارې د پیوستون لاري دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوك چي ريشتيا دي په تلاش د جانان

په زړه کي ګډ لري وصال او هجران

لکه سيندونه د ګنګا او جمنا

پر يوه لاره عاقبت وي روان

تل يې بهېږي د زړګي په تل کي

د مقدسو اوبو پاکي ځپې

هلته نوبت د ژوند او مرګ ختم سي

او د زمان پکښي ايره سي ريښې

وګوره څه عجب مقام دی هلته

ځوك چي پيدا کړي په ښتن کي قرار

هغه نېکبخته يې په خوند پوهېږي

چي پيدا کړي يې مين ته وي لار

هلته د ميني په تارو ترلی

د خوشالۍ بحر ټالونه وهي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د قدرت نغمه ږغېږي هلته

پټو پردو کې شهبازونه وهي

او کبیر وایي ځومره ښه ښکارېږي

چي بې اوبو یې نیلوفر غوړېږي

او زما د زړه مچمچۍ ګرځي باندي

د نیلوفر له شاتو نه صبرېږي

ځومره ښایسته دی دا آبي نیلوفر

چي په سینه کي د جهان سپړېږي

یوازي ځو سترګي یې ګل ووینې

او تر ځو زړونو یې خوښي رسېږي

د نیلوفر پر شا وخوا ږغېږي

د کایناتو د اسرارو نغمې

هغه ناپایه سمندر ته زړه ځي

او پکښي ګوري د خوښیو شېبې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښي غوټه سه د کبير په سلا

د سمندر پټو خوږو ته ورسه

چي د ژوندون او مرگ خطاوي مينځي

هغو موجونو او څپو ته ورسه

گوره چي څنگه په خوږو څپو کي

تنده ماتېږي د پنځو حسونو

هلته پرده سي له اسرارو پورته

سوالونه نه وي د اوږدو رازونو

کبيره خلاصي کړه د زړه سترگي دي

دا کرشمه ده د واحد لامکان

هلته د پټي سپوږمۍ نور ځلېږي

د زړه د خوني پر ميدان د انسان

هلته د ژوند او مرگ نغمه چوپېږي

پر جوش راځي د بېخوديو چينې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله تیاره فضا له نوره ډکه

پکښې ځېږې وهي روښاني شغلې

هلته آواز دی د بې ږغه نغمو

ساز دی د مینې او د درو نړیو

درې میلیونه څراغونه بل دي

په نور د لمر او د ښایستو سپوږمیو

ما پر هیڅ لاره سفر نه دی کړی

بې غمه مځکې ته راغلی یمه

او لوی ځښتن مې بې تکلیفه دلته

د خپل رحمت غېږ کې نیولی یمه

دوی به سندرې لامکان ته وایي

ما په بې سترګو وظیفو لیدلی

هغه بې شکه ده بې غمه مځکه

خو چا یې څرك نه دی د خط ایستلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازي څوك چي پر دې لار سي ور سم

له ټوله غمه به خلاصېږي هلته

هغه عجيبه د قرار سيمه ده

چي په هنر څوك نه رسېږي هلته

هغه هوښيار دی چي ليدلی يې دی

هغه هوښيار دی چي نغمه يې وايي

دا سرمنزل د كلام بوله مگر

ژبه د چا ده چي مزه يې وايي

چا چي يې يو ځلي مزه څكلې

هغه پوهېږي څه خوښۍ دي پكښې

وايي كبير كه څوك په وپوهېږي

د تياره عقل هوښيارۍ دي پكښي

د جهل كور ته هوښياري راولي

او هوښياران ورته گونگي پاتېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسجد کلي ته مستي راولي

زاهد بېخوده پکښي ونڅېږي

د هغه عقل سي کامل په سر کي

څوك چي د ميني تشوي جامونه

نه تار نه گوتي دي رباب ته په کار

بشپړ اسمان کي دي نغمې سورونه

لوبه د درد او د خوښۍ روانه

وربانديي نه لري اثر وختونه

وايي کبير که سمندر ته د ژوند

ورگډوې د خپل ژوندون کلونه

دربانديي اوري به باران د رحمت

نور به دي زانگي د ژوندون پر خونه

هلته په څرخ دی د مستيو جهان

پيالې ډکېږي شپه او ورځ په هر آن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده چښي د ساعتونو جوهر

ژوند يې په څېر وي د خالق د جهان

زه درته کړمه حقيقت خبره

ځکه چي ما دی حق منلی پر ځان

زه اوس ملگری يم له حقه سره

ما ترك وهلي دي ريا او گومان

او کبير وايي چي پر دغه لاره

بنده ته وېره وحشت نه پاتېږي

په مرگ او ژوند چي يې خطا کړې وي

هغه له زړه د بنده وکوچېږي

هلته د عرش مستي نغمې ږغېږي

باران د شاتو او کوثر اورېږي

ږغ د سورنا او د ډولونو راځي

هلته تارونه د بربط شرنگېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه جلال دی هلته ځان پټ کړی

په کنگرو کې پاس د ښکلي اسمان

نه لمرخاته نه لمر لوېده سته هلته

نه يې کيسه نه يې معلوم دی داستان

او د جلوې په سمندر کې هلته

چې ټول جوړ سوی دی د ميني له نور

نه يې معلومه چا ته ورځ او شپه ده

نه يې توپير سته نه ښکارېږي انځور

هلته خوښي د تل دپاره راځي

غم او تلاښ نه دی نصيب د انسان

ما د هغو خوښيو خوند ليدلی

ما ته څرگند دی هغه ښکلی جهان

هلته نه ځای سته د گناه او خطا

دا حقيقت دی و کبير ته عيان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې شاهد يمه ليدلي مي دي

لوبه، سخا او برکت د سبحان

ما مي په خپل وجود کي وليدله

ستره بازي د دې عالم او جهان

ما د نړۍ له خطا ځان ژغورلی

له ګناهونو مي پرېولی دی ځان

بهر د ننه يو اسمان ښکارېږم

بې انتهی او انتهی ده يو شان

زه يې نشه يم له ليدلو څخه

راته مستي يې ده بخښلې جانان

دا ستا له نوره کاينات چلېږي

د ميني نور په معرفت بلېږي

او کبير وايي خطا نه ځي هلته

جګړه د مرګ او د ژوندون ختمېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



WHERE is the night, when the sun is shining? If it is night, then the sun withdraws its light. Where knowledge is, can ignorance endure? If there be ignorance, then knowledge must die.

If there be lust, how can love be there? Where there is love, there is no lust.

Lay hold on your sword, and join in the fight. Fight, O my brother, as long as life lasts.

Strike off your enemy's head, and there make an end of him quickly: then come, and bow your head at your King's Durbar.

He who is brave, never forsakes the battle: he who flies from it is no true fighter.

In the field of this body a great war goes forward, against passion, anger, pride, and greed:

It is in the kingdom of truth, contentment and purity, that this battle is raging ; and the sword that rings forth most loudly is the sword of His Name.

Kabir says: "When a brave knight takes

the field, a host of cowards is put to flight.

It is a hard fight and a weary one, this fight of the truth-seeker: for the vow of the truth-seeker is more hard than that of the warrior, or of the widowed wife who would follow her husband.

For the warrior fights for a few hours, and the widow's struggle with death is soon ended:

But the truth-seeker's battle goes on day and night, as long as life lasts it never ceases."

د حقیقت جګړه

شپه پر کوم لوري ده تللې چې د لمر شغلې ځلېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که شپه ده غوړېدلې د لمر وړانګي به ورکېږي

چي هر چېرته جهالت وي معرفت وي لاس پرېولی

چي رڼا د معرفت وي جهالت کله پاتېږي

چي شهوت غلبه وکړي هلته مینه_مینه نسته

او که مینه وي موجوده نو شهوت کله ټینګېږي

توره واخله ځان تیار که ځه جنګېږه په میدان کي

تر هغو به وهې توري چي نفس دي وي په ځان کي

د دښمن سرونه غوڅ که ترې خالي د جنګ میدان که

ځه روان سه سر دي کښته په دربار کي د سلطان که

مېړه هیڅ نه پر شاکېږي له میدانه د جنګونو

او چي وتښتي له جنګه هغه نه دی له مېړونو

دښمنان دي راوتلي یوه لو جګړه روانه

که ګرانښت، قهر، غرور دی او که حرص دی له انسانه

چي دا جنګ پکښي روان دی امتحان چي د غیرت دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلمرو د حقیقت دی د پاکۍ او قناعت دی

دا چي جنګ پکښي روان دی دا سرونه چي پرې کېږي

دا د ده د نامه توره دا د ده په زور چلېږي

کبير وايي چي مېړونه د جنګ اور ته داخلېږي

دا چي جنګ پکښي روان دی دا سرونه چي پرې کېږي

دا د ده د نامه توره دا د ده په زور چلېږي

کبير وايي چي مېړونه د جنګ اور ته داخلېږي

نامردان تښتي له جنګه له وسلو سره پټېږي

دا جګړه ده ډېره سخته دا جګړه د حقیقت ده

چي تلاښ د حقیقت کړي دا جګړه يې په قدرت ده

د حق لار ده ډېره ګرانه د جګړې تر ميدانونو

او يا کوندې چي ځان سوځي د وفا په انګارونو

ځکه جنګ د جنګياليو څو ساعتو کي ختمېږي

او له مرګ سره د کونډې جګړه ژر پای ته رسېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر جنګ د حق د لاري هره شپه او ورځ روان دی

تر هغې شپېې جګړه ده چي ژوندی پاته انسان دی.

THE river and its waves are one

Surf: where is the difference between the river and its waves?

When the wave rises, it is the water; and when it falls, it is the same water again. Tell me, Sir, where is the distinction?

Because it has been named as wave, shall it no longer be considered as water?

Within the Supreme Brahma, the worlds are being told like beads:

Look upon that rosary with the eyes of wisdom.

سیند او موجونه

دواړه یو دي که څه سیند که يې څپې دي

توپیر څېري دی د سیند او د موجونو

چي څپې په سیند کي پورته سي اوبه دي

او چي لوېږي بیا اوبه دي د سیندونو

راته ووايه توپیر په دې کي څه دی

که توپیر یوازي نه وي د نومونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي څپه يې نوم پر ایښی دی نو څه سوه؟

نور به نه وي له اوبو او له رودونو؟

د جهان د ستر خالق په ذات کي خلکو

جهانونه د تسپو وړې دانې دي

سترګي خلاصي کړئ د عقل ورته ګورئ

چي يې څرنګه پېيلي دا تسپې دي.

TELL me, O Swan, your ancient tale.

From what land do you come, O Swan? to what shore will you fly?

Where would you take your rest, O Swan, and what do you seek?

Even this morning, O Swan, awake, arise, follow me!

There is a land where no doubt nor sorrow have rule: where the terror of Death is no more.

There the woods of spring are a-bloom, and the fragrant scent "He is I" is borne on the wind:

There the bee of the heart is deeply immersed, and desires no other joy.

نهايي خوښي

بتي ژر يې راته وايه خپله تېره افسانه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته له کومه ملکه راغلې راته ښیه آشیانه دي

کوم ساحل ته دي پرواز دی ځې تر کومو وطنونو
هم کیسه د وطن وکه هم د خپلو هدفونو

بتي نن سهار راکښېنه له اوږدو_اوږدو خوبونو
زما پر لاره سه روانه زما پر لور د منزلونو

داسي خاوري ته به ولاړ سو چي واك نه لري غمونه
هلته وېره د مرگ نسته مرگی نه وهي سرونه

هلته کور د پسرلي وي شنه ځنگلونه غوړېدلي
هلته "دی_ زه یم" ذکرونه له نسیم سره اودلي

هلته زړونه داسي مست وي د خوښیو له شرابو
چي درپاته نوري نه وي د مستۍ او خوښۍ هیلي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



2

WITHIN this earthen vessel are bowers and groves, and within it is the Creator:

Within this vessel are the seven oceans and the unnumbered stars.

The touchstone and the jewel-appraiser are within;

And within this vessel the Eternal soundeth, and the spring wells up.

Kabir says: "Listen tome, my Friend! My beloved Lord is within."

خاورين لوښی

دې خړ لوښي کې د خاورو هم چترۍ دي هم سايې دي

هم خالق پکښې دننه د قدرت يې ننداري دي

دې خړ لوښي کې هستېږي اوه لوی سمندرونه

بې حسابه پکښې ستوري پکښې پټ دي اسمانونه

پکښې گوتي د زرگرو د الماسو خرمنونه

پکښې زر دي جواهر دي د محك امتحانونه

په دې لوښي کې د خاورو د بقا آهنگ ږغېږي

د بې شمېره ځاځکو کور دی او چينې پکښې اوسېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبیر وايي ما ته غوږ سئ خاورین لوښي کي دوستانو

زما محبوب خالق دېره دی سترګي غواړي د رندانو.

To Thee Thou hast drawn my love, O Fakir!

I was sleeping in my own chamber, and Thou didst awaken me; striking me with Thy voice, O Fakir!

I was drowning in the deeps of the ocean of this world, and Thou didst save me: upholding me with Thine arm, O Fakir!

Only one word and no second�and Thou hast made me tear off all my bonds, O Fakir!

Kabir says, "Thou hast united Thy heart to my heart, O Fakir!"

تا راویښ کړمه فقیره

تا مي له ځانه سره مینه کړه پیدا فقیره

تا خپلي میني ته بللی یم تنها فقیره

زه په خلوت کي وم اوښتی په درنو خوبونو

تا مي غوږونه په آواز کړله شنوا فقیره

زه ډوبېدلم د نړۍ د سمندر په تل کي

ته مي ناجي سوې تا له سره کړم پیدا فقیره

تا له موجونو ګردابونو څخه وژغورلم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله غېږه کي دي يوړم تر بېديا فقيره

ستا په يوه کلمه مات مي ځنځيرونه کړله

او ټول بندونه د دنيا او مافيها فقيره

زړه دي يو کړی دی فقيره له کبيره سره

راته روښانه يوه حرف کړله دنيا فقيره.

NOW hard it is to meet my Lord!

The rain-bird wails in thirst for the rain: almost she dies of her longing, yet she would have none other water than the rain.

Drawn by the love of music, the deer moves forward: she dies as she listens to the music, yet she shrinks not in fear.

The widowed wife sits by the body of her dead husband: she is not afraid of the fire.

Put away all fear for this poor body.

له جانان سره ليدل ګران دي

زما له رب سره ليدل اوس راته ګران دي

په دې لار کي عالمونه سرګردان دي

د باران مرغۍ چي ترږې د باران ده

تر مرګي رارسېدلې دغه آن ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو یوازي د باران اوبو ته ژاړي

نه د نورو اوبو تږې نه یې غواړي

هوسۍ وګوره چې اوري ساز د میني

په رګونو کې یې غورځي مستي ويني

که د میني له هیبته مري تېښږي

نه د ځان له وهمه ځغلي نه تورېږي

په مېږه پسي چې کونډه کبابېږي

له لمبو د سره انګاره نه ېږېږي

که جانان غواړې له سره به تېرېږې

دغه لار ده سرمنزل ته چې رسېږې.

CLOUDS thicken in the sky! 0, listen to the deep voice of their roaring;

The rain comes fro the east with its monotonous murmur.

Take care of the fences and boundaries of your fields, lest the rains overflow them;

Prepare the soil of deliverance, and let the creepers of love and renunciation be soaked in this shower.

It is the prudent farmer who will bring his harvest home; he shall fill both his vessels, and feed both the wise men and the saints.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پہ آسمان کي توري ورېځي

توري ورېځي پہ اسمان کي راغونډېږي
غوږ پر ونيسه پہ څه طاقت غړومبېږي

شرپى اورېږي د باران چي رارواندى
له ختيځه څخه ورو_ورو رارسېږي

د کښتونو کټارې پولي کړه ټينګي
چي سېلونه پرې راځي پکښي ډوبېږي

د نجات خاوره تياره کړه پہ کښت کي
چي د ميني حشرې پکښي غونځېږي

چي د ميني او خلوت حشرې راسي
دې باران کي پہ کرار_کرار خيشتېږي

دهقانان چي وي هوښيار فصل وړي کور ته
هم کندو او هم يې لوښي پہ ډکېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زحمت او د احتیاط په برکت یې

هوښیار خلك او شیخان دواړه مړېږي.

IS there any wise man who will listen to that solemn music which arises in the sky?

For He, the Source of all music, makes all vessels full fraught, and rests in fullness Himself.

He who is in the body is ever athirst, for he pursues that which is in part:

But ever there wells forth deeper and deeper the sound "He is this-this is He"; fusing love and renunciation into one.

Kabir says: "O brother! that is the Primal Word."

چا په اسمان کې ږغ اورېدلی دی

کوم هوښیار به هغه ساز وي اورېدلی

چې یې ږغ وي له اسمان څخه ختلی

هغه څوك چې سرچینه د ټوله ساز ده

هر یو لوښی یې تر څنډې رسولی

مالامال یې کړ وجود له سور او تاله

او په کل کې یې آرام ځانته منلی

په وجود کې چې د جز په تلاښۍ ګرځي

دی پخپله دی له تندې کړېدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو دننه د کوگل له تاریکیو

هغه دی دی، دی هغه دی ږغ وتلی

دغه ږغ، مینه او هجر سره یو کړي

د عاشق او د معشوق توپیر دی تللی

کبیر وایي واوره دا اصلي جهان دی

چي په ویښه او په خوب کي مي لیدلی.

TO whom shall I go to learn about my Beloved?

Kabir says: "As you never may find the forest if you ignore the tree, so He may never be found in abstractions."

زه له چا پوښتنه وکړم

چا ته ورسمه له چا وکړم پوښتنه

د محبوب له رنگ او شکل له بدنه

کبیر وایي ځنگل هیڅ نه سي لیدلای

که نظر کي دي را نه وړي یوه ونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که يې غواړې په هستيو کې يې ګوره

هغه نه دی راجلا له هر وطنه.

I HAVE learned the Sanskrit language, so let all men call me wise:

But where is the use of this, when I am floating adrift, and parched with thirst, and burning with the heat of desire?

To no purpose do you bear on your head this load of pride and vanity.

Kabir says: "Lay it down in the dust, and go forth to meet the Beloved. Address Him as your Lord."

سانسکريټ مې ځکه زده کړه

سانسکريټ ژبه مې ځکه سوه په کار

ګوندې ټول خلګ مې وبولې هوښيار

سود يې څه دی چې څپو يمه اخيستی

رامعلومه د وتلو نه ده لار

په کوګل کې مې د هيلو لمبې بلې

او لا سوځمه له تندې په انګار

بې فايدې دې پر سر پېټې دی اخيستی

لا په زړه کې چلوې د غرور بار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبیر وایي بار پر مځکه باندي کښېږده

ځه روان سه په طلب د خپل دلدار

په ادب یې تر درشله پوري ورسه

ته غلام او دی به بولې خپل بادار.

THE woman who is parted from her lover spins at the spinning wheel.

The city of the body arises in its beauty; and within it the palace of the mind has been built.

The wheel of love revolves in the sky, and the seat is made of the jewels of knowledge:

What subtle threads the woman weaves, and makes them fine with love and reverence!

Kabir says: "I am weaving the garland of day and night. When my Lover comes and touches me with His feet, I shall offer Him my tears."

چي له محبوب څخه بېلېږي ښځه

له محبوبه څخه ښځه چي بېلېږي

پر څرخه باندي له څرخ سره تاوېږي

د وجود ښار یې ښکلا پر سر اخیستی

په هغه کي د زړګي قصر جوړېږي

څرخه د میني په آسمان کي سره اوړي

سرګردانه له آسمان سره څرخېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د پوهي معرفت له مرغلرو

پکښي تخت د جواهرو تيارېږي

ښځه څه نازك تارونه سره اوبي

او د ميني له هنره ښکلي کېږي

کبير وايي زما په لاس کي شپې او ورځي

سره اوړي اودل کېږي او سپړېږي

او چي پښې مي د محبوب راڅخه موښلي

نذرانه مي ورته سري اوښکي بهېږي.

BENEATH the great umbrella of my King millions of suns and moons and stars are shining!

He is the Mind within my mind: He is the Eye within mine eye.

Ah, could my mind and eyes be one! Could my love but reach to my Lover! Could but the fiery heat of my heart be cooled!

Kabir says: "When you unite love with the Lover, then you have love's perfection."

زما د شاه تر چتر لاندي دي لمرونه

زما د شاه تر چتر لاندي ميليونونه

سپوږمۍ ستوري دي ځلېږي او لمرونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زړه دی زما په زړه کي چي تپېږي

هغه سترګه ده زما سترګه کي اوسېږي

زړه او سترګي مي دي يو وي دا کېدای سي؟

تر جانان پوري مي مينه رسېدای سي؟

دا کېدای سي چي کرار مي سي دردونه؟

او په زړه کي مي ساړه سي سره اورونه؟

چي مين او مينه يو په بل ګډېږي

کبير وايي مينه هلته بشپړېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



3

O SADHU! My land is a sorrow less land.

I cry aloud to all, to the king and the beggar, the emperor and the fakir-

Whosoever seeks for shelter in the Highest, let all come and settle in my land!

Let the weary come and lay his burdens here!

So live here, my brother, that you may cross with ease to that other shore.

It is a land without earth or sky, without moon or stars;

For only the radiance of Truth shines in my Lord's Durbar.

Kabir says: "O beloved brother! naught is essential save Truth."

له غمونو خلاصه سیمه

زه ناري وهمه واورئ زاهدانو

پاچهانو ګدایانو سلطانانو

زما سیمه له غمونو ده فارغه

په لښکرو ورته راسئ فقیرانو

سرپناه ته چي ځوك غواړي اسمانونه

راسئ زما پر مځکه جوړ کئ خپل کورونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږده ستړي زما په مځکه کي هوسا سي

له شا واړوي درانه_درانه بارونه

دلته ژوند وکه چي تېر سي بې ګومانه

د لوی سیند تر بلي غاړي په آسانه

داسي سیمه ده بې مځکي بې اسمانه

نه سپوږمۍ سته نه د ستورو پوځ روښانه

په دربار کي د څښتن چي مي شکارېږي

پلوشې د حقیقت دي چي ځلېږي

کبیر وایي ګرانه وروره پر دې سیمه

حقیقت دی او بل هیڅ شي نه چلېږي.

DEAR friend, I am eager to meet my Beloved! My youth has flowered, and the pain of separation from Him troubles my breast.

I am wandering yet in the alleys of knowledge without purpose, but I have received His news in these alleys of knowledge.

I have a letter from my Beloved: in this letter is an unutterable message, and now my fear of death is done away.

Kabir says: "O my loving friend! I have got for my gift the Deathless One."

د حیات اوبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما يارانو زړه مي سوی و وصال ته د جانان دی

زما ځواني ده غوړېدلې اوس اختيار کله د ځان دی

نور طاقت راپوري نسته سينه سوځي زړګی سوځي

په سينه کي اور بل دی ززړه مي زخم له هجران دی

له درې د معرفته راته زېری دی راغلی

که هر څه په دې دره کي زړه پرېشان او سرګردان دی

راته ليك د جانان راغی پکښي پټ پيغام ليکلی

اوس له مرګه نه بېرېږم ژوند او مرګ راته يکسان دی

کبير وايي واوره دوسته څه تحفه مي ده راوړې

د حيات اوبه يې راکړې ژوند مي ځکه جاودان دی.

WHEN I am parted from my Beloved, my heart is full of misery: I have no comfort in the day, I have no sleep in the night. To whom shall I tell my sorrow?

The night is dark; the hours slip by. Because my Lord is absent, I start up and tremble with fear.

Kabir says: "Listen, my friend! There is no other satisfaction, save in the encounter with the Beloved."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جانان وصال

چي جلا يمه له ياره زړه مي ډك وي له غمونو

نه د ورځي مي آرام سته نه د شپې مي په خوبونو

چا ته ووايم حالونه چا ته وشمېرم غمونه

نه حساب مي د زخمو سي نه قرار مي د دردونو

شپه تياره ده خوب مي نسته ساعتونه دي تېرېږي

چي جانان راسره نسته ډار مي پروت دی پر هډونو

كبير وايي ګرانه دوسته تر هغې به كرار نه سم

چي جانان غېږ ته را نه سي چي وصال نه وي د زړونو.

O LORD Increate, who will serve Thee?

Every votary offers his worship to the God of his own creation: each day he receives service-

None seek Him, the Perfect: Brahma, the Indivisible Lord.

They believe in ten Avatars; but no Avatar can be the Infinite Spirit, for he suffers the results of his deeds:

The Supreme One must be other than this.

The Yogi, the Sanyasi, the Ascetics, are disputing one with another:

Kabir says: "O brother! he who has seen that radiance of love, he is saved."

يو ځښتن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك به تا ته پر سجده سي اې خالقه د ملكونو

څوك به ستا ستاينه وكړي په سجدو په طاعتونو

هر زاهد ځانته جوړ كړی خپل خلوت د بندگی دی

په خدمت د هغه خدای دی چي يې جوړ كړ په لاسونو

هره ورځ ورته سجدې كړي خدای په ياد د هيچا نه دی

هغه خدای چي هم كامل دی هم خالق د جهانونو

لس خدايان يې كښېنولي د سينو په بتخانو كي

يو به ور نه سي تر خدايه تر پاچا د اسمانونو

څوك چي په پښو ته د صنم ځي د هغو په خوله ايرې دي

هغه ستر خالق لا بل دی هغه لوړ تر معبدونو

هره ورځ لاس و گرېوان وي خپلي لاري بولي سمي

كه جوگی دی كه صوفي دی كه زاهد د خلوتونو

چي ليدلي يې د ميني پلوشې د خپل خالق دي

كبير وايي وروڼو واورئ هغه خلاص له عذابونو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



WHY so impatient, my heart?

He who watches over birds, beats, and insects,

He who cared for you whilst you were yet in your mother's womb,

Shall He not care for you now that you are come forth?

Oh my heart, how could you turn from the smile of your Lord and wander so far from Him?

You have left Your Beloved and are thinking of others: and this is why all your word is in vain.

نگهبان لري زړگيه

ولي دومره يې بې صبره زما زړگيه

له زمان څخه ډاربړي لېونيه

هغه څوك چي كړي ساتنه د مرغانو

د نړۍ د حشراتو حيواناتو

له نېستۍ څخه هستۍ ته چي راتللې

په رحم كي يې د مور څنگه ساتلې

اوس به څنگه هغه ستا نگهبان نه وي

ساتندوی به دي پر مخ د جهان نه وي

زما زړگيه ته به څنگه له خپل خدايه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليري کېږي او خوځېږي به له ځايه

ستا به څرنگه د ده مينه هېرېږي

تا ته څنگه نوري لاري دريادېږي

تا په زړه کي مينه ځای کړه د اغيارو

ځکه ته يې د ژوندون پر ورکو لارو

خپل محبوب دي دی پرې ايښی سرگردان يې

د هيڅ کار دي گټه نسته په تاوان يې.

O HOW may I ever express that secret word?

O how can I say He is not like this, and He is like that?

If I say that He is within me, the universe is ashamed:

If I say that He is without me, it is falsehood.

He makes the inner and the outer worlds to be indivisibly one;

The conscious and the unconscious, both are His footstools.

He is neither manifest nor hidden, He is neither revealed nor unrevealed:

There are no words to tell that which He is

نه هغه دی نه دغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي ته څرنګه بيان کړم هغه پټ لوزونه
تاسي ته څرنګه دروښيم د زړه رازونه

ځنګه به ووايم چي ما دی په کوم رنګ ليدلی
ځنګه دروښيم د هغه ناپيدا شکلونه

که درته ووايم چي دی مي په رګو کي اوسي
په دې کلام به شرمنده سي د جهان رګونه

که درته ووايم چي زما په تن کي نه هستېږئ
دا به دروغ وي پکښي نسته د ريشتيا قولونه

هغه دننه او دباندي نړۍ يو شاني کړه
اوس يې په منځ کي چا ته نه ښکاري د وېش خطونه

که بې هوښي ده او که هوښ دی کرشمې د ده دي
هغه پر دواړو جهانونو ايږدي خپل ګامونه

هغه نه پټ بد نه په سترګو يې ليدلای سي څوك
نه د ظاهر نه د باطن باندي راځي حکمونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په کتاب نه په کلام يې درښودلای سمه

نه د قلم تر ژبې ځاځي د معنی حرفونه.

WHEN at last you are come to the ocean of happiness, do not go back thirsty.

Wake, foolish man! for Death stalks you. Here is pure water before you; drink it at every breath.

Do not follow the mirage on foot, but thirst for the nectar;

Dhruva, Prahlad, and Shukadeva have drunk of it, and also Raidas has tasted it:

The saints are drunk with love, their thirst is for love.

Kabir says: "Listen to me, brother! The nest of fear is broken.

Not for a moment have you come face to face with the world:

You are weaving your bondage of falsehood, your words are full of deception:

With the load of desires which you hold on your head, how can you be light?"

Kabir says: "Keep within you truth, detachment, and love."

د خوښيو سمندر

د خوښيو سمندر ته عاقبت يې رسېدلی

تږی ستون ورڅخه نه سې چې اوبو ته يې راغلی

مرگ دي هر ځای په تلاښ دي بېخبر انسانه ويښ سه

نوشوه يې هر نفس کې چې ډك جام دررسېدلی

ماتوه د ژوندون تنده د حيات په مستو ميو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سراب لاري وانه خلې چا مطلب نه میندلی

د نړۍ چي څه پیران دي که هر څه لوی مرشدان دي

دلته هر یو دی راغلی هر یوه یې جام څکلی

که شیخان دي که ولیان دي ټوله ترې دي د میني

هر یو مست دی له دې میو چا پر سد نه دی لیدلی

کبیر وایي دا خبره مي د زړه په غوږو واوره

چي د میني په مقام کي کور د وېري نړېدلی

ته یوه شېبه نړۍ ته مخامخ په ژوند کي نه سوې

په لوی لاس دي د دروغو په ځنځیر دی ځان تړلی

بار د طمع دي په سر کي غولول کړې تېر ایستل کړې

په دې دومره درانه ځان دي دا سفر څنګه منلی

چا چي زړه کي دي ساتلي حقیقت، قناعت، مینه

کبیر وایي دا هغه دی چي جانان ته ورغلی.

O MAN, if thou dost not know thine own Lord, whereof art thou so proud?

Put thy cleverness away: mere words shall never unite thee to Him.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Do not deceive thyself with the witness of the Scriptures:

Love is something other than this, and he who has sought it truly has found it.

د وصل لار

چي دي خپل خالق لا نه دی پېژندلی

دا غرور دي له کوم ځایه دی راغلی

د رندۍ او زرنګۍ له لاري هیڅوك

د وصال منزل ته نه دی رسېدلی

هسي مه غولوه ځان په کتابونو

په کتاب کي یې چا څرك نه دی میندلی

د جانان سره د میني لار جلا ده

چي پر دي لاره څوك تللی ورغلی.

THE savour of wandering in the ocean of deathless life has rid me of all my asking:

As the tree is in the seed, so all diseases are in this asking.

له احتیاجه فارغ سوم

د حیات په سمندر کي ګرځېدمه

د باقي ژوندون له جامه اوبېدمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بقا د ژور بحر په څپو کې

له خواستونو له احتیاجه خلاصېدمه

لکه ونه چې په زنې کې اوسېږي

له احتیاجه د ژوند ټول زیانونه زېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



4

IMPTY the Cup! O be drunken!

Drink the divine nectar of His Name!

Kabir says: "Listen tome, dear Sadhu!

From the sole of the foot to the crown of the head this mind is filled with poison."

دا پیاله واخله

دا پیالې کړې پر سر پورته

ځان کړئ مست له بېخودیو

سر پر سر جامونه نوش کړئ

د خالق د نوم له میو

کبیر وایي ما ته غوږ سئ

زاهدانو د پېرېو

چي د پښو له نوکه پورته

د سرونو تر کوپړیو

ښاماران له زهرو ډك یاست

نه له شاتو نه له پیو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



SUBTLE is the path of love!

Therein there is no asking and no not-asking,

There one loses one's self at His feet,

There one is immersed in the joy of the seeking: plunged in the deeps of love as the fish in the water.

The lover is never slow in offering his head for his Lord's service.

Kabir declares the secret of this love.

لار د میني ده باریکه

لار د میني ده باریکه په آسانه نه ښکارېږي
نه پوښتنه له چا کېږي نه بې سواله څوك پاتېږي

هلته هر څوك چي رسېږي د محبوب په پښو کي ورك سي
د تلاښ خوښي يې واخلي دې خوښيو کي ډوبېږي

داسي ډوب سي څوك د ميني د تلاښ په سمندر کي
د ماهي په څېر به گرځي او له ځانه نه خبرېږي

عاشقان د معشوق پښو کي خپل سرونه نذرانه کړي
يو کبير دی په اسرارو د دې ميني چي پوهېږي.

WHO has ever taught the widowed wife to burn herself on the pyre of her dead husband?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And who has ever taught love to find bliss in renunciation?

د ساتي لار چا وښودله

چي له مېږه سره ځان اور کي سوځي

کونډېي ته چا دی دا سبق ښودلی

او چا ښودلي چي د ميني پر لار

په رياضت کي برکت شيندلی.

KABIR ponders and says: "He who has neither caste nor country, who is formless and without quality, fills all space."

The Creator brought into being the Game of Joy: and from the word Om the Creation sprang.

The earth is His joy; His joy is the sky;

His joy is the flashing of the sun and the moon;

His joy is the beginning, the middle, and the end;

His joy is eyes, darkness, and light.

Oceans and waves are His joy: His joy the Sarasvati, the Jumna, and the Ganges.

The Guru is One: and life and death, union and separation, are all His plays of joy!

His play the land and water, the whole universe!

His play the earth and the sky!

In play is the Creation spread out, in play it is established. The whole world, says Kabir, rests in His play, yet still the Player remains unknown.

کله کبير ته هم غوږ ونيسه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبیر سر پر زنګانه ایښی او وایي

نه یې قوم نه طبقه سته دی یې ستایي

نه یې شکل نه یې کیف چا ته ښکاریږي

د فضا تر هر یو کونج پوري رسیږي

خالق لوبه د خوښۍ منځته راوړې

د خلقت معنی له ده څخه راغلې

دا د ده له خوښۍ مځکه غوړیدلې

پاس اسمان ورته کږه ملا ده نیولې

لمر سپوږمۍ د ده له خوښي ځلیدلي

هم آغاز او هم انجام یې پیدا کړي

د هغه خوښي هم نور او هم تیارې دي

د هغه خوښي بحرونه او څپې دي

د هغه خوښي ده ټوله لوی سیندونه

د ساراسواتي، جمنا، ګنګا رودونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یو دی هم مرګی او هم ژوندون دی

د ده لوبه ده وصال او كه بېلتون دی

د هغه لوبه اوبه او جهانونه

د هغه لوبه ده مځكه اسمانونه

په دې لوبه كې خلقت دی غوړېدلی

په دې لوبه كې ثبات تعبیر میندلی

كبیر وایي ټول جهان ورته لوبېږي

خو لوبغاړی چا ته نه ورمعلومېږي.

THE Beggar goes a-begging, but

I could not even catch sight of Him:

And what shall I beg of the Beggar He gives without my asking.

Kabir says: "I am His own: now let that befall which may befall!"

زه له فقیر څخه څه وغواړم

ګدا روان وي ګدایي پسي ځي

خو زه يې څرك لا هم ليدلای نه سم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما بې غوښتني مي لمن ډكه ده

ورنه څه غواړم پوهېدلای نه سم

كبيره ځان مي په اختيار كي وركړ

اوس يې د پېښي مخ نيولای نه سم.

SERVE your God, who has come into this temple of life!

Do not act the part of a madman, for the night is thickening fast.

He has awaited me for countless ages, for love of me He has lost His heart:

Yet I did not know the bless that was so near to me, for my love was not yet awake.

But now, my Lover has made known to me the meaning of the note that struck my ear:

Now, my good fortune is come.

Kabir says: "Behold! how great is my good fortune! I have received the unending caress of my Beloved!"

د خپل خدای خدمت دي وکړه

د خپل خدای خدمت دي وكه چي راغلی

او د ژوند تر دې معبده رسېدلی

پام په چم د لېونيو چي ور نه سې

چي تاريكي شپې وزر دی غوړولی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ما ته په عمرونو انتظار وو

زما په مینه کي يې خپل زړه دی بايللی

لا په قدر د رحمت نه پوهېدمه

ځکه زما محبوب لا نه وو کښېنستلی

مګر اوس جانان معنا ده راښودلې

د هغه سور چي په غوږ مي اورېدلی

کبير وايي ګوره څومره بختور يم

او پوهېږم اوس مي بخت راټوکېدلی

لا طالع به نوره څومره وي يارانو

چي دلدار يم تر قيامته نازولی.

THE Vedas say that the Unconditioned stands beyond the world of Conditions.

O woman, what does it avail thee to dispute whether Hi is beyond all or in all?

See thou everything as thine own dwelling place: the mist of pleasure and pain can never spread there.

There Brahma is revealed day and night: there light is His garment, light is His seat, light rests on thy head.

Kabir says: "The Master, who is true, He is all light."

ويدا وايي مطلق چېري دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویدا وایي چي مطلق چېري هستېږي

د حالاتو د جهان تر شا اوسېږي

دا پوښتنه ولي وکړې چي په کل کي؟

که له کل څخه دباندي پیدا کېږي؟

هغه ځای د هستوګني مکان بوله

له نصیبه چي په برخه دررسېږي

هلته نه د غم غبار سي رسېدلای

نه خوښي پر هغه مځکه معلومېږي

هلته لوی برهما د نور جامې اغوستي

شپه او ورځ په هغه نور کي درښکارېږي

هغه تل هلته د نور پر چوکۍ ناست وي

او د نور تاج يې پر سر باندي ځلېږي

کبیر وایي کوم ښتن چي حقیقت دی

هغه نور دی پکښي غیر هیڅ نه جوړېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



THIS day is dear to me above all other days, for to-day the Beloved Lord is a guest in my house;

MY chamber and my courtyard are beautiful with His presence.

My longings sing His Name, and they are become lost in His great beauty:

I wash His feet, and I look upon His Face; and I lay before Him as an offering my body, my mind, and all that I have.

What a day of gladness is that day in which my Beloved, who is my treasure, comes to my house!

All evils fly from my heart when I see my Lord.

"My love has touched Him; my heart is longing for the Name which is Truth."

Thus sings Kabir, the servant of all servants.

جانان مي مېلمه دی

دغه آن راته په ټوله ژوند کي ګران دی

چي مېلمه مي نن په کور کي خپل جانان دی

که مي خونه که انګړ دی ښکلی ښکاري

له ښایسته مخه يې ټوله کور روښان دی

په ښکلا کي يې سندري وي زما ورکي

د ده نوم دی چي پر ژبه مي هر ان دی

پښې يې مينځمه ښایسته مخ ته يې ګورم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نذرانه مي ورته ايښی دا خپل ځان دی

تر خيرات او صدقه به مي زړګی کړم

که مي سر دی که مي مال دی که سامان دی

لا به څه نېکمرغي غواړمه په ژوند کي

چي جانان کور ته راغلی دا زمان دی

نقابونه مي د زړه کړه ورته پورته

چي جانان راښکاره کړی مخ عيان دی

وصل سوی يم د حق له ښکلي نومه

ختم سوی مي بېلتون دی که هجران دی

دا سندره د کبير واورئ يارانو

تېټ له ټولو غلامانو چي يې شان دی.

O MY heart! You have not known all the secrets of this city of love: in ignorance you came, and in ignorance you return.

O my friend, what have you done with this life? You have taken on your head the burden heavy with stones, and who is to lighten it for you?

Your Friend stands on the other shore, but you never think in your mind how you may meet with Him:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The boat is broken, and yet you sit ever upon the bank; and thus you are beaten to no purpose by the waves.

The servant Kabir asks you to consider; who is there that shall befriend you at the last?

You are alone, you have no companion: you will suffer the consequences of your own deeds.

د میني راز درمعلوم نه سو

زما زړګیه خبر نه سوې ته د میني له رازونو
ځې د میني له دې ښاره بېخبره له رمزونو

واوره دوسته راته وایه تا له ژوند سره څه وکړه
ځې روان یې سر دي دروند کړ تش د کاڼو له بارونو

اوس به څوک درسره مله سي څوک به لاس د مرستي درکړي
څوک به بار درسره واخلي د ژوندون د کړاوونو

دوست د سیند پر بله غاړه منتظر دی خبر نه یې
چي به څنګه در په برخه کله وصل سي د زړونو

ستا د سیند سفر په مخ کي ته پر ماته کښتۍ سپور یې
څه بېګڅایه غېږ ته ولاړې د څپو او د موجونو

د بنده کبیر دا خواست دی چي ورځې ځان په خبر کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته څوك درته ولاړ دی چي دي مل سي د مزلونو

پر دې توره اوږده لاره همسفر درسره نسته

سزا خپله دررسېږي ستا د کړو عملونو.

IF God be within the mosque, then to whom does this world belong?

If Ram be within the image which you find upon your pilgrimage, then who is there to know what happens without?

Hare is in the East: Allah is in the West. Look within your heart, for there you will find both Karim and Ram;

All the men and women of the world are His living forms.

Kabir is the child of Allah and of Ram: He is my Guru, He is my Pir.

که خدای په مسجد کي دی

که دننه په مسجد کي خدای اوسېږي

د نړۍ واکداري چا ته وررسېږي

او که رام د درمسال په بت کي ناست دی

د چا کار دی چي دباندي څه پېښېږي

په ختیځ کي دی هري غرب کي الله دی

ستا په زړه کي رام کریم دواړه هستېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نړۍ کې نارينه دي او که ښځې

د ده شکل يې اخيستی دی پايېږي

چې کبير مخلوق د رام او د الله دی

يو مې پير بل مې ګورو راته ښکارېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



5

HE who is meek and contented, he who has an equal vision, whose mind is filled with the fullness of acceptance and of rest;

He who has seen His and touched His, he is freed from all fear and trouble.

To him the perpetual thought of God is like sandal paste smeared on the body, to him nothing else is delight:

His work and his rest are filled with music: he sheds abroad the radiance of love.

Kabir says: "Touch His feet, who is one and indivisible, immutable, and peaceful; who fills all vessels to the brim with joy, and whose form is love."

قناعت چي يې وي برخه

قناعت چي يې په برخه وي ختلی
چي جهان يې په يوه نظر کتلی

چي ي زړه ډك له رضا او له قراره
او قسمت يې د نصيب په زړه منلی

له هر ډار او له کړاو خخه آزاد وي
چي يې ده ته لاس وروړی یا ليدلی

چي تل فکر د خدای داسي ورسره وي
لکه وي بدن په شاتو کي لړلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه لپاره بله خوښي نسته

نه په زړه کي بل ارمان يې وي راغلی

خوځېده آرام يې ډك له يوه سازه

نور د ميني يې بهر ته وي شيندلی

کبير وايي ځه هغه ته پر سجده سه

چي واحد ثابت آرام دی اوسېدلی

ډکوي لوښي تر څنډې يې له خوښيه

او وجود يې دی له ميني هستېدلی.

GO thou to the company of the good, where the Beloved One has His dwelling place:

Take all thy thoughts and love and instruction from thence.

Let that assembly be burnt to ashes where His Name is not spoken!

Tell me, how couldst thou hold a wedding-feast, if the bridegroom himself were not there?

Waver no more, think only of the Beloved;

Set not thy heart on the worship of other gods, there is no worth in the worship of other masters.

Kabir deliberates and says: "Thus thou shalt never find the Beloved!"

د نېکانو سره مل سه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه په ډله د نېکيو کي روان سه

چي محبوب پکښي نيولی ځانته کور دی

هم معلومي کړه د عقل ځانته لاري

هم ترې واخله چي باقي د ميني شور دی

هغه ډله دي لمبو کي ايرې کېږئ

چي به نوم د محبوب نه پکښي يادېږي

راته ووايه چي زوم پخپله نه وي

د واده جشن به څرنګه جوړېږي

چي بدله نه کړې لاره او نيتونه

د محبوب يوازي بويه تلاښونه

زړه کي ځای نه کړې سجدې چي د خدايانو

طاعت نه ارزي د نورو بادارانو

کبير وايي خبرومه دي له حاله

پر دې لار نه ځې جانان ته تر وصاله.

THE jewel is lost in the mud, and all are seeking for it;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Some look for it in the east, and some in the west; some in the water and some amongst stones.

But the servant Kabir has appraised it at its true value, and has wrapped it with care in the end of the mantle of his heart.

ورك غمی

غمی ورك دی او په ختو کي لوېدلی

په تلاښ يې ټول مخلوق دی راوتلی

ځوك مشرق ځوك په مغرب كي پسي گرځي

چا اوبو ته چا پر كاڼو مخ نیولی

خو کبیر يې په اصلي ارزښت خبر دی

پټ د زړه په بوخچه گی، كي يې ساتلی.

THE palanquin came to take me away to my husband's home, and it sent through my heart a thrill of joy;

But the bearers have brought me into the lonely forest, where I have no one of my own.

O bearers, I entreat you by your feet, wait but a moment longer: let me go back to my kinsmen and friends, and take my leave of them.

The servant Kabir sings: "O Sadhu! finish your buying and selling, have done with your good and your bad: for there are no markets and no shops in the land to which you go."

نابلده ځای ته راغلم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډولۍ راغله د مېړه کور ته وړل کېږم

له خوښيه په جامو نه ځايېږم

مزدورانو (کهارانو1) د ځنګله مابين ته يووړم

يك تنها يمه په لاره نه پوهېږم

کهارانو دا يوه شېبه خو تم سئ

درته عذر کوم پښو ته مو درلوېږم

يو ځل ځمه تر دوستانو تر خپلوانو

هغوی وينمه له ټولو رخصتېږم

کبير وايي په سندرو کي زاهده

رانيول او خرڅلاو پرېږده د مالونو

څه لګيا يې له سهاره تر ماښامه

په تللو د ښو بدو عملونو

ځکه ته داسي نړۍ ته ورروان يې

نه درك سته د بازار نه دوکانونو.

O BROTHER! when I was forgetful, my true Guru showed me the Way.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Then I left off all rites and ceremonies, I bathed no more in the holy water:

Then I learned that it was I alone who was mad, and the whole world beside me was sane; and I had disturbed these wise people.

From that time forth I knew no more how to roll in the dust in obeisance:

I do not ring the temple bell:

I do not set the idol on its throne:

I do not worship the image with flowers.

It is not the austerities that mortify the flesh which are pleasing to the Lord,

When you leave off your clothes and kill your senses, you do not please the Lord:

The man who is kind and who practices righteousness, who remains passive amidst the affairs of the world, who considers all creatures on earth as his own self,

He attains the Immortal Being, the true God is ever with him.

Kabir says: "He attains the true Name whose words are pure, and who is free from pride and conceit."

ورونو کله چي زه ورك وم

ورونو زما ښخه وې ورکي ټولي لاري ګودرونه

حقيقي مرشد مي راغی ده خبر کړم له ژوندونه

رانه پاته سولې چاري د سجدو د طاعتونو

راته نور مقدس نه وه په سندونو کي غسلونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته پوه سوم په جهان کي لېونی یوازي زه وم

نور دا ټول خلك خوښیار دي او سالم یې دي مغزونه

له هغه وخته بیا نه یم په ایرو کي رغړېدلی

نه مي بیا دي ننګولي زنګولي معبدونه

نه بتانو ته سجدې کړم نه پر تخت یې کښېنومه

نه د ختېو خدای منمه نه وروړم ورته ګلونه

نه د ځان په کړولو خدای له چا خوشاله کېږي

نه له چا غواړي چي لوڅ سي او یا ووژني فکرونه

هغه څوك چي مهربان دی چي صادق پر لاري سم دی

په نړۍ کي چي یې سم دي پر ریشتیا باندي کارونه

چي پر مځکه باندي ګرځي هغه ټول لکه ځان بولي

دا رسېږي ستر خالق ته چي یې نه وژني مرګونه

کبیر وایي دا رسېږي هغه لوی ریښتوني نوم ته

چي کلام یې مقدس دی نه غرور سته نه مکرونه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



O SADHU! the simple union is the best. Since the day when I met with my Lord, there has been no end to the sport of our love.

I shut not my eyes, I close not my ears, I do not mortify my body;

I see with eyes open and smile, and behold His beauty everywhere:

I utter His Name, and whatever I see, it reminds me of Him; whatever I do., it becomes His worship.

The rising and the setting are one to me; all contradictions are solved.

Wherever I go, I move round Him,

All I achieve is His service:

When I lie down, I lie prostrate at His feet.

He is the only adorable one to me: I have none other.

My tongue has left off impure words, it sings His glory day and night.

Whether I rise or sit down, I can never forget Him; for the rhythm of His music beats in my ears.

Kabir says: "My heart is frenzied, and I disclose in my soul what is hidden. I am immersed in that one great bliss which transcends all pleasure and pain."

ما ته هر څه يو دي

له خالق سره وحدت که دي په سر دی

نو ساده وحدت له هر څه نه بهتر دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخه ما چي له لومړۍ ورځي لیدلی

غرق په مینه کي زړگی مي د دلبر دی

نه مي سترګي له لیدو څخه تړمه

نه مي غوږ له اورېدلو بندومه

نه وجود له ریاضته کړومه

نه مي عمر په خلوت کي تېرومه

په خندا په خلاصو سترګو راښکارېږي

په هر ځای کي یې ښکلا ده چي ځلېږي

زما پر ژبه د ده نوم دی چي څرخېږي

چي هر څه ګورمه دی راته یادېږي

که کښېنم که پورته کېږم دواړه یو دي

له هر کاره مي د ده سجدې جوړېږي

چي هر چېرته ځم پر ده طواف کومه

د ژوند هر معمی راته حلېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما له ژبي هېر دي ټول د غير نومونه

شپه او ورځ يې د عظمت وايي سردونه

نه په ناسته نه ولاړه مي هېرېږي

دا يو ساز دی چي غوږو کي مي رږغېږي

کبير وايي شور د ميني درښيمه

په سينه کي پټ اِسرار ښکاره کومه

زه د داسي ميني اور يم سوځولی

چي نه غم او نه خوښۍ يم پېژندلی.

چي پرېوزم تل د ده په پښو کي پروت يم

ژوند مي ټول د ده خدمت دی رارسېږي

دا يو ذات دی چي په ژوند کي يې ستايمه

دا يو نوم دی چي پر ژبه يې لرمه

زما له ژبي هېر دي ټول د غير نومونه

شپه او ورځ يې د عظمت وايي سردونه

نه په ناسته نه ولاړه مي هېرېږي

دا يو ساز دی چي غوږو کي مي رږغېږي

کبير وايي شور د ميني درښيمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سینه کي پټ اِسرار ښکاره کومه

زه د داسي میني اور یم سوځولی

چي نه غم او نه خوښۍ یم پېژندلی.

THE moon shines in my body, but my blind eyes cannot see it:

The moon is within me, and so is the sun.

The unstruk drum of Eternity is sounded within me; but my deaf ears cannot hear it.

So long as man clamours for the I and the Mine, his works are as naught:

When all love of the I and the Mine is dead, then the work of the Lord is done.

For work has no other aim than the getting of knowledge:

When that comes, then work is put away.

The flower blooms for the fruit: when the fruit comes, the flower withers.

The musk is in the deer, but it seeks it not within itself: it wanders in quest of grass.

جهان زموږ په وجود کي دی

سپوږمۍ ما ته ده راغلې په وجود کي مي ځلېږي

خو زما سترګي چي ړندې دي هغه نه ورته ښکارېږي

په وجود کي مي سپوږمۍ ده لمر مي ګډ دی په رګونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مي ويني په خبري نه يې څرك راڅرگندېږي

د بقا ډول مي ږغېږي بې آوازه په كوگل كي

خو غوږونه مي كاڼه دي ږغ يې نه باندي ېيلېږي

چي د زه او زما ناري وي د انسان سره ملگري

چي د ژوند يې څه عمل دى ټول په هيڅ كي شمېرل كېږي

چي د زه او زما له ميني د انسان زړونه خالي سي

چي په ژوند كي يې عمل دى له خالقه حسابېږي

د عمل مقصد پوهي ده بل هدف ورسره نسته

او چي پوهه لاسته راسي عمل سمدستي ختمېږي

د مېوې په خاطر راسي رنگ په رنگ ښايسته گلونه

چي مېوه مخ راڅرگند كړي گلان مړاوي سي وچېږي

د هوسۍ دننه مشك دي هوسۍ نه ورپسي گرځي

د وښو په تلاښ وزي په دښتونو كي څرېږي.

IN the beginning was He alone, sufficient unto Himself: the formless, and unconditioned Being.

Then was there neither beginning, middle, nor end;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Then were no eyes, no darkness, no light;

Then were no ground, air, nor sky; no fire, water, nor earth; no rivers like the Ganges and the Jumna, no seas, oceans, and waves.

Then was neither vice nor virtue; scriptures there were no, as the Vedas and Puranas, nor as the Koran.

Kabir ponders in his mind and says, "Then was there no activity: the Supreme Being remained merged in the unknown depths of His own self."

The Guru neither eats nor drinks, neither lives nor dies:

Neither has He form, line, colour, nor vesture.

He who has neither caste nor clan nor anything else-how may I describe His glory?

He has neither form nor formlessness,

He has no name,

He has neither colour nor colourlessness,

He has no dwelling-place.

هم یوازي هم کافي وو

له آغازه هم یوازي هم پوره له خپله ځان وو

هم بې شکله هم بې رنګه هم مطلق هغه یزدان وو

نه آغاز وو، نه مابین وو، نه انجام چا پېژندلی

نه وې سترګي نه تیاره وه او نه نور وو ځلېدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت چي مځکه نه وه نه هوا نه اسمانونه

نه اوبه وې او نه خاوري او نه بل چېرته اورونه

نه ګنګا وو نه جمنا وو نه روان وه لوی سیندونه

نه دریاب نه سمندر وو نه څپې نه یې موجونه

نه د خیر او شر درك وو نه موجود وه کتابونه

نه ویدا وو نه قرآن وو نه قدیم زاړه متنونه

کبیر وايي هغه وخت چي د عمل نه وې خبري

ستر وجود په ځان کي ډوب وو ناپایانه یې ژوري

نه خوړل کړي نه چنبل کړي نه ژوندون کړی نه مړ کېږي

نه لباس لري نه شکل نه یې رنګ چا ته ښکارېږي

نه مقام نه طایفه یې، نه یې نوم چا ته عیان دی

دا بې شکله بلاکیفه څه بیان کړم څه یې شان دی

نه یې رنګ چا ته معلوم دی نه بې رنګه په هیڅ آن دی

په هیڅ ځای کي نه اوسېږي بې وطنه لامکان دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



6

THE true Name is like none other name!

The distinction of the Conditioned from the Unconditioned is but a word:

The Unconditioned is the seed, the Conditioned is the flower and the fruit.

Knowledge is the branch, and the Name is the root.

Look, and see where the root is: happiness shall be yours when you come to the root.

The root will lead you to the branch, the leaf, the flower, and the fruit:

T is the encounter with the Lord, it is the attainment of bliss, it is the reconciliation of the Conditioned and the Unconditioned.

حقیقي نوم تل یو دی

حقیقي نوم ته بل نوم نه سي راتللای

له مطلقه مشروط نه سي بېلېدلای

مطلق پټ دی له نظره لکه زړی

او مشروط یې سې مېوه او گل بللای

علم ښاخ دی، نوم ریښه ده پسي گوره

په ریښه کي سې خوښي پیدا کولای

ریښه تا ته درښيي ښاخلې او پاڼي

هم تر گل هم تېر مېوې سې رسېدلای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لار ده د خالق حضور ته تللې

بارانونه د رحمت سې پر میندلای

روغه جوړه د مشروط او د مطلق ده

بله لاره پکښې نه سې جوړېدلای.

KABIR says: "O Sadhu! hear my deathless words. If you want your own good, examine and consider them well.

You have estranged yourself from the Creator, of whom you have sprung: you have lost your reason, you have bought death.

All doctrines and all teachings are sprung from Him, from Him they grow: know this for certain, and have no fear.

Hear from me the tidings of this great truth!

Whose name do you sing, and on whom do you meditate? O, come forth from this entanglement!

He dwells at the heat of all things, so why take refuge in empty desolation?

If you place the Guru at a distance from you, then it is but the distance that you honour:

If indeed the Master be far away, then who is it else that is creating this world?

When you think that He is not here, then you wander further and further away, and seek Him in vain with tears.

Where He is far off, there He is unattainable: where He is near, He is very bliss.

Kabir says: "Lest His servant should suffer

pain He pervades him through and through."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Know yourself then, O Kabir; for He is in you from head to foot.

Sing with gladness, and keep your seat unmoved within your heart.

اې زاهده له کبیره يې واوره

کبیر وايي اې زاهده واوره ستا د خیر خبري
بې قېمته مرغلري او خوږې لکه شکري

له هغه خالقه بېل سوې ستا وجود چي ترې راغلی
تا خپل عقل دی بایللی تا مرگی دی رانیولی

له هغه دي زېږېدلي ټول علمونه سبقونه
یقین وکړه مه بېرېږه له هغه دي کمالونه

دغه زېری له ما واوره او دا لوی حقیقتونه
ته د چا ترانې وايي ته د چا کوې ذکرونه؟

له زیندۍ خلاصه کړه غاړه لړۍ پرېږده د فکرونو
هغه هر شي کي اوسېږي ولي ځې تر خلوتونو؟

که سې لیري له مرشده فاصله ستا نیت راوړي
که بادار دی ریشتیا لیري نږۍ چا ده پیدا کړې؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په بل ځای کي یې غواړې بېهوده دي وخت تېرېږي
سرگردان به یې له سترگو به دي اوښکي راتوییږي

که خالق سو درنه لیري بیا دي لاس نه وررسېږي
په هر ځای کي چي نیژدې دی د رحمت باران اورېږي

کبیر وایي هغه هر ځای خپاره کړي دي لاسونه
هسي نه چي پر بنده یې چېرته ورسي کړاوونه

اې کبیره په ځان پوه سه ځان دي نه دی پېژندلی
سر تر نوکه دی په تا کي ستا وجود یې دی نیولی

چي په سر د خالق پوه سوې د خوښۍ سندري وایه
مقام وساته په زړه کي چي ونه خوځې له ځایه.

O MY heart! Let us go to that country where dwells the Beloved, the ravisher of my heart!

There Love is filling her pitcher from the well, yet she has no rope wherewith to draw water;

There the clouds do not cover the sky, yet the rain falls down in gentle showers:

O bodiless one! Do not sit on your doorstep; go forth and bathe yourself in that rain!

There it is ever moonlight and never dark; and who speaks of one sun only? That land is illuminate with the rays of a million suns.

د جانان وطن له لمره ډك دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه چي ځو هغه وطن ته چي جانان پکښي اوسېږي

چي زما زړه يې رانه وړی چي په زړه کي مي هستېږي

هلته مينه ورته ډك کی د دې لوښي له ګودره

خو رسی ورسره نسته چي ډك لوښی په کشېږي

هلته توري ورېځي نسته چي شين مخ د اسمان پټ کي

خو نری_نری باران وي نرم_نرم رااورېږي

اې له ځانه بېخبره ولي لاس تر زني ناست يې

ژر هغه باران ته ورسه ورځي شپې دي چي تېرېږي

هلته هر شپه سپوږمی ده هلته نوم د تياري نسته

څوك به وايي چي يو لمر دی د اسمان پر مخ ځلېږي

هغه مځکه نوراني ده بېحسابه يې لمرونه

او دا نور دی چي ځلېږي او شغلې دي چي خپرېږي.

I HEAR the melody of His flute, and I cannot contain myself:

The flower blooms, though it is not spring; and already the bee has received its invitation.

The sky roars and the lightning flashes, the waves arise in my heart,

The rain falls; and my heart longs for my Lord.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Where the rhythm of the world rises and falls, thither my heart has reached:

There the hidden banners are fluttering in the air.

Kabir says: "My heart is dying, though it lives."

زه يې سور د شپېلۍ اورم

زه يې سور د شپېلۍ اورم زړه له واکه دی وتلی

ګل غوړېږي خو زه وينم پسرلی نه دی راغلی

مچمچۍ پر ګلو ګرځي ټولوي يې شات په مينه

ګل بللې ده خپل ځانته دې يې هم دعوت منلی

پاس اسمان راته غړومبېږي او برېښنا پکښې پړکېږي

په زړګي کې مې موجونه پورته کېږي کښته کېږي

له اسمانه ځاځکي اوري مځکه سره او زرغونه ده

زړه مې هر ګړی وصال ته د ښايسته جانان پسخېږي

زړه مې هلته رسېدلی تر هغه مقامه تللی

آهنګونه د جهان چې پورته کېږي او رالوېږي

هلته پاس پر اسمانونو پټ بيرغ دی چې رپېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبیر وایي زړه مي ومري که هر څو ژوندی پاتېږي.

OPEN your eyes of love, and see Him who pervades this world I consider it well, and know that this is your own country.

When you meet the true Guru, He will awaken your heart;

He will tell you the secret of love and detachment, and then you will know indeed that He transcends this universe.

This world is the City of Truth, its maze of paths enchants the heart:

We can reach the goal without crossing the road, such is the sport unending.

Where the ring of manifold joys ever dances about Him, there is the sport of Eternal Bliss.

When we know this, then all our receiving and renouncing is over;

Thenceforth the heat of having shall never scorch us more.

Hi is the Ultimate Rest unbounded:

Ha has spread His form of love throughout all the world.

From that Ray which is Truth, streams of new forms are perpetually springing: and He pervades those forms.

All the gardens and groves and bowers are abounding with blossom; and the air breaks

forth into ripples of joy.

There the swan plays a wonderful game,

There the Unstruck Music eddies around the Infinite one;

There in the midst the Throne of the Unheld is shining, whereon the great Being sits-

Millions of suns are shamed by the radiance of a single hair of His body.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



On the harp of the road what true melodies are being sounded! And its notes pierce the heart:

There the Eternal Fountain is playing its endless life-streams of birth and death.

They call Him Emptiness who is the Truth of truths, in Whom all truths are stored!

There within Him creation goes forward, which is beyond all philosophy; for philosophy cannot attain to Him:

There is an endless world, O my Brother! and there is the Nameless Being, of whom naught can be said.

Only he knows it who has reached that region: it is other than all that is heard and said.

No form, no body, no length, no breadth is seen there: how can I tell you that which it is?

He comes to the Path of the Infinite on whom the grace of the Lord descends: he is freed from births and deaths who attains to Him.

Kabir says: "It cannot be told by the words of the mouth, it cannot be written on paper:

It is like a dumb person who tastes a sweet thing-how shall it be explained?"

سترګي خلاصي کړه جانان وګوره

سترګي خلاصي کړه د ميني او هغه جانان ته ګوره

چي دا ټول جهان ترې ډك دی دا ستا خپل وطن دی وروره

حقيقي مرشد پيدا کړه چي راوبښ دي درته زړه کي

سر د ميني به بيان کړي د بېلتون کيسه به وکي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه سترګي به دي خلاصي حقيقت به درعيان کي

هغه لوړ له کايناتو او برتر په بل جهان کي

نړۍ ښار د حقيقت دی زړه کي ګرځي ډېري لاري

بېله لاري تر هدفه د ورتللو هم سته چاري

د جانان پر شا وخوا چي د خوښۍ اتڼ نڅېږي

دايمي برکت ګوره هغه ځای کي پيدا کېږي

چي په دې حقيقت پوه سوو چي په راز وپوهېدلو

نسته ځای د اخيستلو نه د شي د پرېښودلو

هلته نسته اور په زړه کي د هر شي د درلودلو

نه د حرص به وي سکروټي د خپل ځان د سوځولو

دی پخپله د بې حده آرامۍ لره مکان دی

ده پخپله غوړولی رنګ د ميني پر جهان دی

له شغلې د حقيقته تل رنګونه دي خوځېږي

ټول شکلونه له ده ډك دي په هر رنګ کي معلومېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول باغونه ښاخلې ډکي له ګلونو له غوټېو
هلته ټوله فضا ناخي او ځپې دي د خوښيو

هلته بتي په اسمان کي غوړولي وزرونه
بې آوازه ساز ږغېږي پر بېحد وهي څرخونه

هلته تخت د لامکان دی په مابين کي چي ځلېږي
ستر خالق وربانديي ناست دی او شغلې يې پورته کېږي

بې حسابه يې لمرونه له شغلې څخه شرمېږي
حقيقي آهنګ ږغېږي او د زړه تل ته رسېږي

دايمي چينه روانه مرګ او ژوند پکښي بهېږي
دی جوهر د حقايقو په ظاهر نېستي ښکارېږي

په وجود کي يې هستي ده ماوراْ ده له علمونو
ځکه هيڅ علم تلای نه سي پاس د ده تر سرحدونو

وروره هلته بې سرحده او ناپايه لوی جهان دی
پکښي هيڅ نه ويل کېږي د بې نومه هستۍ کان دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې شکل نه بدن وي نه لوی والی يې ښکارېږي

زه به څنگه تا ته وايم چي په کوم نامه يادېږي

تر دې ځايه هغه څوك ځي چي د خدای رحم پر کېږي

سي ازاد له مرگ او ژونده چي تر ده پوري رسېږي

کبير وايي نه په خوله کي توري سته د توصيفونو

نه بيان يې سي کېدلای په قلم په کاغذونو

چي گونگي ته مزه ورکړي خواږه شات خوږې شکري

دی به څنگه خوږ بيان کړي ځکه نه سي کړای خبري.

The Man and the Creator

When a stream is lost in the Ganges.

It becometh as the Ganges itself.

Kabir is similarly lost in God by invoking Him.

I have become as the True one and need not go elsewhere.

The perfume of the sandal is communicated to other trees.

They then become as the sandal itself.

When the philosopher's stone is applied to copper.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



It becometh gold.

So Kabir having met the saints.

Hath becometh as God.

ویاله روانه وي او وروسته په گنگا گډېږي

کله چي وصل سي پخپله ترې گنگا جوړېږي

کبیر همداسي و وتلی د خالق په تلاښ

اوس یې وجود په خدای کي غرق سو ورنه نه بېلېږي

زما له وجوده حقیقي واحد جوړ سوی خلکو

نور مي هیڅ لوري هیڅ تلاښ ته زړگی نه سمېږي

چي نوري وني د صندل د وني عطر واخلي

د هري وني د ښاخلو د صندل عطر زېږي

سنگ پاروس که څوك له مسو سره وجنگوي

مس طلا کېږي د سرو زرو په څېر وځلېږي

چي له شیخانو سره تېر کړله کبیر وختونه

د خپل خالق رنگ یې اخیستی دی نور نه بدلېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I DO not know what manner of God is mine.

The Mullah cries aloud to Him: and why? Is your Lord deaf? The subtle anklets that ring on the feet of an insect when it moves are heard of Him

Tell your beads, paint your forehead with the mark of your God, and wear matted locks long and showy: but a deadly weapon is in your heart, and how shall you have God?

نه پوهېږم خالق څنګه دی

نه پوهېږم چي خالق مي لري څنګه صفتونه
ملا لوړ منبر ته خېژي کړي په زوره آذانونه

چي واړه حشرات ګرځي خدای يې بږغ د قدم اوري
ملا ولي وهې چيغي خدای دي نه اوري ږغونه؟

چا تسپې وي رااخيستي ګوتي سترې کړي په ذکر
چا ليکلي پر تندي وي د خالق په ياد خطونه

چا اوږده وېښته پرې ايښي چا پر سر غوټې ورکړي
چي مخلوق ته ځان ښکاره کړي چي مي پاك دي ټول کارونه

مګر څنګه به رسېږې د خپل ستر خالق مقام ته
چي پټ کړي دي په زړه کي د مرګي دي خنجرونه.

THE Yogi dyes his garments, instead of dyeing his mind in the colours of love:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



He sits within the temple of the Lord, leaving Brahma to worship a stone.

He pierces holes in his ears, he has a great heard and matted locks, he looks like a goat:

He goes forth into the wilderness, killing all his desires, and turns himself into an eunuch:

He shaves his head and dyes his garments; he reads the Gita and becomes a mighty talker.

Kabir says: "You are going to the doors of death, bound hand and foot!"

جوګي ولي جامې رنګ کړې؟

جوګي خپل کالي غوټه کړي په رنګونو

رنګ د میني ولي نه وړي تر مغزونو

د معبد په کونج کي کښېني خالق پرېږدي

د ډبري سي لګیا په طاعتونو

په غوږونو کي سوري جوړ کړي اوږده ږیره

ټول ملګري د اوزګړو په شکلونو

خواهشات وژني له ځانه ایجړا جوړ کړي

لېوني غوندي په ګرځي پر دښتونو

سر خریلی جامې رنګ پر کتاب پروت وي

تېز تر هر چا په خبرو بیانونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبیر وایي دروازو ته د مرګ ولاړې

ورته پروت یې په تړلو پښو لاسونو.

THE shadows of evening fall thick and deep, and the darkness of love envelops the body and the mind.

Open the window to the west, and be lost in the sky of love;

Drink the sweet honey that steeps the petals of the lotus of the heart.

Receive the waves in your body: what splendour is in the region of the sea!

Hark! The sounds of conches and bells are rising.

Kabir says: "O brother, behold! The Lord is in this vessel of my body."

د ماښام سایې رالوېږي

د ماښام سایې رالوېږي توري ګڼې پر ښارونو

او تیاره د مینې تاو سي پر وجود او پر مغزونو

کړکۍ خلاصه مخ پر غرب که ننداره د جهان وکړه

ځان پناه کړه په لمن کي پاس د عشق د اسمانونو

هغه شات که پر سر پورته اوبوي چي ګلبرګونه

د ژوندون د نیلوفرو چي ګلونه دي د زړونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان تيار که سينه سپر کړه ځيږي واخله ځيږي نوش که

څه لويي ده سمندر کي څه قدرت دی د بحرونو

د سرنا او د زنګونو آوازونو پورته کيږي

کبير وايي خدای مي اوسي په وجود کي په رګونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



7

MY heart cries aloud for the house of my lover; the open road and the shelter of a roof are all one to her who has lost the city of her husband.

My heart finds no joy in anything: my mind and my body are distraught.

His palace has a million gates, but there is a vast ocean between it and me:

How shall I cross it, O friend? For endless is the outstretching of the path.

How wondrously this lyre is wrought! When its strings are rightly strung, it maddens the heart: but when the keys are broken and the strings loosened, none regard it more.

I tell my parents with laughter that I must go to my Lord in the morning;

They are angry, for they do not want me to go, and they say: "She thinks she has gained such dominion over her husband that she can have shatsoever she wishes, and therefore she is impatient to go to him."

Dear friend, lift my veil lightly now; for this is the night of love.

Kabir says: "Listen to me! My heart is eager to meet my lover: I lie sleepless upon my bed. Remember me early in the morning!"

په دلدار پسي مي زړه ژړېږي

زړه په زوره په دلدار پسي ژړېږي

نه له اوښکو نه سلګیو کرارېږي

د مېړه ښار چي له ښځي څخه ورك سي

لويه لار او كور يو شان ورته ښكارېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ خوښي مي نه راځي د زړه تر کوره

نه مي زړه نه مي بدن راته صبرېږي

بې حسابه يې د قصر دروازې دي

خو يو لوی سمندر زموږ تر منځ تېرېږي

څنګه ورسم تر ماڼۍ پوري دوستانو

چي تر منځ مو لويه لاره نه پی کېږي

چي تارونه د بربط وي ښه سور سوي

په څه ناز باندي نغمې مستي ږغېږي

خو چي کله يې تارونه وي بې سوره

پر غوږو يې لکه غشی ږغ لګېږي

لېونی يې سي انسان په اورېدلو

سور او تال ته يې نه زړه نه غوږ سمېږي

په خندا چي مور او پلار ته وايم څمه

زړه مي ځي د محبوب کور ته نه ستنېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غوسه سي وایي مه ځه او دوی وایي

چي بې هیڅه په وصال پسي تېښږي

د دې خیال دی چي مېږه یې تر لاس لاندي

او چي هر څه ورنه غواړي وررسېږي

ځکه دا ده په خپل یار پسي بې تابه

ځکه زړه یې له محبوبه نه صبرېږي

زما له مخه نقابونه کړئ لرِ پورته

ځکه دا د میني شپه ده او تېرېږي

کبیر وایي ما ته غورِ نیسئ یارانو

په وصال پسي زړګی مي کبابېږي

کرۍ شپه ورته بې خوبه تېرومه

ما په یاد لرئ دا شپه چي سبا کېږي.

WHEN He Himself reveals Himself, Brahma brings into manifestation That which can never be seen.

As the seed is in the plant, as the shade is in the tree, as the void is in the sky, as infinite forms are in the void-

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



So from beyond the Infinite, the Infinite comes; and from the Infinite the finite extends.

The creature is in Brahma, and Brahma is in the creature: they are ever distinct, yet ever united.

He Himself is the tree, the seed, and the germ.

He Himself is the flower, the fruit, and the shade.

He Himself is the sun, the light, and the lighted.

He Himself is Brahma, creature, and Maya.

He Himself is the manifold form, the infinite space;

Hi is the breath, the word, and the meaning.

He Himself is the limit and the limitless:

and beyond both the limited and the limitless is He, the Pure Being.

Hi is the Immanent Mind in Brahma and in the creature.

The Supreme Soul is seen within the soul,

The Points is seen within the Supreme Soul,

And within the Point, the reflection is seen again.

Kabir is blest because he has this supreme vision!

د خالق وجود

چي خالق خپل ځان ښرگند کړي و خپل ځانته

څوك په سترگو يې جلوه نه سي ليدلای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه تخم په نبات کي وي دننه

او سايې له ونو نه سي راوتلای

د اسمان په پراخه غېږه کي خلا ده

په خلا کي بې سرحده مخلوقات دي

د دې ټول بې انتهی مخلوق په ها خوا

بې سرحده بې حسابه کاينات دي

سر پر سر بې انتهی ده چي هستېږي

په بې حده کي محدود دی چي ځلېږي

ټول مخلوق دی د خالق دننه ځان کي

او خالق په مخلوقاتو کي ښرگند دی

يو له بله سره بېل يې وجودونه

خو بيا يو دي سره کړی يې پيوند دی

دی پخپله يوه ونه ده ولاړه

هم دانه ده هم نطفه ده او هم دواړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پر ونه باندي ګل دی غوړېدلی

هم مېوه ده او هم سیوری رالوېدلی

دی هم لمر دی پر اسمان باندي ختلی

دی هم نور دی هم له نوره ځلېدلی

دی پخپله هم خالق د مخلوقاتو

هم مخلوق دی او هم جز د کایناتو

دی پخپله په څو رنګه څرګندېږي

په بې حده کایناتو کي هستېږي

هم نفس دی هم کلام دی هم معنی ده

هم بې حده هم پخپله انتهی ده

د بې حده او محدود شا ته اوسېږي

د خالص وجود مفهوم پکښي ځلېږي

په خالق او مخلوق دواړو کي باقي دی

نه وجود یې محو کېږي نه فاني دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ستر روح دی چي د روح منځ کي هستېږي

په دې ستر روح کي یو ټکی لیده کېږي

په دې ټکي کي دننه يې جلوه ده

د محدود او د بې حده ننداره ده

کبیر څکه دی نېکمرغه او ښاغلی

چي دا ستر خیال يې په سترګو دی لیدلی.

HE is dear to me indeed who can call back the wanderer to his home. In the home is the true union, in the home is enjoyment of life: why should I forsake my home and wander in the forest? If Brahma helps me to realize truth, verily I will find both bondage and deliverance in home.

He is dear to me indeed who has power to dive deep into Brahma, whose mind loses itself with ease in His contemplation.

Hi is dear to me who knows Brahma, and can dwell on His supreme truth in meditation; and who can play the melody of the Infinite by uniting love and renunciation in life.

Kabir says: "The home is the abiding place; in the home is reality; the home helps to attain Him Who is real. So stay where you are, and all things shall come to you in time."

حقیقت په کور کي

هغه ښوك ما ته عزیز دی چي مي وغواړي خپل کور ته

ما ژغوري له ګمراهیو ما وربولي و خپل لور ته

په هغه کور کي يې وینم ي ریښتونی پیوستون دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کور کي نعمتونه په هغه ځای کي ژوندون دی

ولي خپله مېنه پرېږدم سرگردان سم په ځنگلو کي
که خالق راسره مل وي زما د ژوند په اندېښنو کي

که په کور کي مي نجات وي هم ځنځير مي پښو ته لوېږي
ولي ووزمه ځنگله ته دلته هر څه رارسېږي

هغه څوك ما ته عزيز دی په خالق کي چي غرقېږي
ورسره هغه طاقت دی چي ژور پکښي ډوبېږي

چي په ذکر د خالق کي ورنه هېر سي عالمونه
هم يې ځان ورڅخه ورك سي هم يې زړه هم يې رگونه

هغه څوك ما ته عزيز دی چي په خپل خالق پوهېږي
د دې ستر حقيقت منځ کي په خپل ذکر اوسېږي

چي د ستر او بې سرحده په نامه نغمې خپرې کړي
د وحدت مينه کي ډوب سي د ژوند هېرې ترانې کړي
کبير وايي هغه کور دی د سړي د اوسېدلو
هغه کور دی پيدا سوی په ريشتيا د پوهېدلو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تلاښ که د ریشتیا یې هغه کور کي پیدا کېږي

لیري مه ځه څه چي غواړې پر خپل وخت به دررسېږي.

A SORE pain troubles me day and night, and I cannot sleep;

I long for the meeting with my Beloved, and my father's house gives me pleasure no more.

The gates of the sky are opened, the temple is revealed:

I meet my husband, and leave at His feet the offering of my body and my mind.

د جانان دیدن

شپه او ورځ مي زوکلوي زخمي دردونه

زما له سترګو تښتولي يې خوبونه

هر ګړی مي د محبوب دیدن يادېږي

د پلار کور لکه اغزي په زړه جګېږي

دروازې د اسمانونو دي پرانيستي

او معبد پکښي له ورايه ځرګندېږي

د جانان په پښو کي ځان قربانومه

زړه او روح مي نذرانه ورته وروړمه.

MORE than all else do I cherish at heart that love which makes me to live a limitless life in this world.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



It is like the lotus, which lives in the water and blooms in the water: yet the water cannot touch its petals, they open beyond its reach.

It is like a wife, who enters the fire at the bidding of love. She burns and lets others grieve, yet never dishonors love.

This ocean of the world is hard to cross: its waters are very deep. Kabir says: "Listen to me, O Sadhu! few there are who have reached its end."

تل د هغي میني په ارمان یم

یمه تل د هغي میني په ارمان کي

دایمي ژوند چي راوبخښي جهان کي

دا د هغه نیلوفر په څېر ښکارېږي

چي هستېږي په اوبو کي او غوړېږي

خو اوبه یې نه رسېږي تر برګونو

بې اوبو غوټۍ غوړېږي د ګلونو

لکه ځوانه کونډه نه کښېني په کور کي

له مېړه سره ځان وسوځي په اور کي

پر خپلوانو ورځي جوړي کړي غمګیني

څو چي وساتي عزت او نوم د میني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټر ناپایه سمندر اوښتل ګران دي

هم ژوري يې اوبه هم نهنګان دي

سادو واوره ډېرو لاپې دي وهلي

تر ساحله يو يا دوه دي رسېدلي.

IT is the mercy of my true Guru that has made me to know the unknown;

I have learned from Him how to walk without feet, to see without eyes, to hear without ears, to drink without mouth, to fly without wings;

I have brought my love and my meditation into the land where there is no sun and moon, nor day and night.

Without eating, I have tasted of the sweetness of nectar; and without water, I have quenched my thirst.

Where there is the response of delight, there is the fullness of joy. Before whom can that joy be uttered?

Kabir says: "The Guru is great beyond words, and great is the good fortune of the disciple."

د پير پيغام

د خپل پير له برکته يم دې ځاى ته رسېدلى

يم په هر څه پوهېدلى او مجهول مي پېژندلى

ما زده کړي دي چي څنګه ببله پښو پر لاري ځمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څه وینم چي موجود د مگر سترگي نه لرمه

بې غوږونو آواز اورم بېله خولې اوبه چښمه

بې وزره الواته کړم مخ پر هسك پرواز کومه

هغې مځکې ته مې وړې خپله مینه وظیفې دي

چي نه لمر سته نه سپوږمۍ سته نه یې ورځې نه یې شپې دي

ما څکلې شیریني ده د شکرو بې خوړلو

ماته کړې مې ده تنده بې اوبو او بې چښلو

هلته بشپړه خوښي وي چي جواب وي د خوښیو

د چا مخ ته به اظهار کړو دا احساس د خوشالیو

کبیر وایي پیر مې ستر دی په کلام کې نه ځاییږي

او مرید یې دی نېکمرغه چي د پیر په نوم یادېږي.

WHERE Spring, the lord of the seasons, reigneth, there the Unstruck Music sounds of itself,

There the streams of light flow in all directions;

Few are the men who can cross to that shore!

There, where millions of Krishnas stand with hands folded,

Where millions of Vishnus bow their heads,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Where millions of Brahmas are reading the Vedas,

Where millions of Shivas are lost in contemplation,

Where millions of Indras dwell in the sky,

Where the demi-gods and the munis are unnumbered,

Where millions of Saraswatis, Goddess of Music, play on the vina-

There is my Lord self-revealed: and the scent of sandal and flowers dwells in those deeps.

زما د خدای مقام

پسرلی چي پر تخت ناست وي شهنشاه د موسمونو

له هغه ځایه راوزي ږغ د تار او د سازونو

مالامال ویالې له نوره هلته هره خوا بهیږي

هر وګړی دي ویالو ته دې ساحل ته نه رسیږي

میلیونونه د کریشناو لاس پر نام هلته دریږي

بې حسابه ویشنوګان وي چي سرونه په ځړیږي

میلیونونه برهماګان دي د ویدا لولي سردونه

لا بې شمیره شیواګان دي پر زنګون ایښي سرونه

میلیونونه ایندرا اوسي هغه عرش هغه آسمان کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا يې شمېر چا ته معلوم دی چې حساب واړه خدایان کي

هلته خدای د آهنګونو مستي کړي ترانې دي

سرینده کي یې سرې کړي د هستۍ مستي نغمې دي

هلته زما د خدای مقام دی غوړېدلي ګلدستې دي

هلته عطر دي د ګلو ډکي کړي یې درې دي.

HOW could the love between Thee and me sever?

As the leaf of the lotus abides on the water: so thou art my Lord, and I am Thy servant.

As the night-bird Chakor gazes all night at the moon: so Thou art my Lord and I am Thy servant.

From the beginning until the ending of time, there is love between Thee and me; and how shall such love be extinguished?

Kabir says: "As the river enters into the ocean, so my heart touches Thee."

د میني پیوند

زما او ستا تر منځ به څرنګه خالقه

کله وشلېږي د میني پیوندونه

نیلوفر چې د اوبو په منځ کي پایي

داسي زما او ستا تر منځ ټینګ دي بندونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه بنده یم ته ښښتن یې ته بادار یې

زه مخلوق یم ته خالق پروردګار یې

لکه ګرځي چي مرغۍ په تورو شپو کي

لار پیدا کړي د سپوږمۍ په پلوشو کي

زه دي دغسي بنده یم ته بادار یې

ته د ټولو ساتندوی ته مددګار یې

له آغازه تر انجامه چي زمان دی

زما او ستا تر منځ د میني ټینګ پیمان دی

داسي مینه په څه رنګ سي بدلېدلای

دونه ټینګ پیوند سي څرنګه شلېدلای

د کبیر زړه داسي ستا سره جوړېږي

لکه رود چي سمندر ته ورګډېږي.

LAMPS burn in every house, O blind one! And you cannot see them.

One day your eyes shall suddenly be opened, and you shall see: and the fetters of death will fall from you,

There is nothing to say of to hear, there is nothing to do: it is he who is living, yet dead, who shall never die again.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Because he lives in solitude, therefore the Yogi says that his home is far away.

Your Lord is near: yet you are climbing the palm-tree to seek Him.

The Brahman priest goes from house to house and initiates people into faith:

Alas! The true fountain of life is beside you, and you have set up a stone to worship.

Kabir says: "I may never express how sweet my Lord is. Yoga and the telling of beads, virtue and vice-these are naught to Him."

په هر کور کي ځراغان دي

په هر کور کي ځراغان دي چي بلېږي
ته چي ړوند يې تا ته نه درمعلومېږي

يوه ورځ به کې ناڅاپه سترګي خلاصي
زولنې به د مرګي درته درلوېږي

هلته نه سې څه ويلای اورېدلای
نه دي زور سته نه په وس دي څه رسېږي

هغه دئ دی چي هم مړ او هم ژوندی دی
تر قيامته بيا هيڅکله نه مړ کېږي

خو چي ژوند کوي تنها نو جوګی وايي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له دې جهانه ډېر ليري هستېږي

د خرما وني ته ولي پسي خېژې

چي خالق دي له خپل څنګ سره اوسېږي

برهمانان په کليو ګرځي سرګردانه

چي به څوك د ايمان لارو ته سمېږي

په سجدو دي کړ ډبري ته ځان ستړی

د ژوندون چينه دي څنګ ته نه ښکارېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



8

ON this tree is a bird: it dances in the joy of life.

None knows where it is: and who knows what the burden of its music may be?

Where the branches throw a deep shade, there does it have its nest: and it comes in the evening and flies away in the morning, and says not a word of that which it means.

None tell me of this bird that sings within me.

It is neither coloured nor colourless: it has neither form nor outline:

It sits in the shadow of love.

It dwells within the Unattainable, the Infinite, and the Eternal; and no one marks when it comes and goes.

Kabir says: "O brother Sadhu! deep is the mystery. Let wise men seek to know where rests that bird."

د لامکان مرغه

د دې ونې پر ښاخلو مرغه هستېږي
له ژوندونه هوسېږي او نڅېږي

هيڅوك نه پوهېږي چېرې يې مكان دى
او څه ورد يې په سازونو كې ږغېږي

چې ښاخلو د ونې سيورې اچولې
د ده هلته ځالگۍ پکښې اوسېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام راسي په خپل کور کي شپه کړي تېره

سهار الوزي له سترګو پناه کېږي

نه یې سِر چا ته معلوم دی د سندرو

نه یې ژبه نه نغمه یې څرګندېږي

د هغه مرغه څوك حال ویلای نه سي

په سینه کي چي دننه مي ویېږي

نه بېرنګه دی نه رنګ لري عالمه

نه یې چا ته وجود شکل معلومېږي

هغه ځای د میني سیوري کي نیولی

لامکان کي یې مکان پکښي پایېږي

HAVE you not heard the tune which the Unstruck Music is playing? In the midst of the chamber the harp of joy is gently and sweetly played; and where is the need of going without to hear it?

If you have not drunk of the nectar of that One Love, what boots it though you should purge yourself of all stains?

The Kazi is searching the words of the Koran, and instructing others: but if his heart be not steeped in that love, what does it avail, though he be a teacher of men?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The Yogi dyes his garments with red: but if he knows aught of that colour of love, what does it avail though his garments be tinted?

Kabir says: "Whether I be in the temple of the balcony, in the camp or in the flower garden, I tell you truly that every moment my Lord is taking His delight in me."

هغه سور دي اورېدلی دی کنه

هغه سور دي اورېدلی کنه دی

چي په تال کي د بې ږغه ساز ږغېږي

په محفل کي د خوشبيو ورته ګورې

په کراره يې خوږه نغمه شرنګېږي

اورېدلې چي دي دغه نغمه نه وي

پر بل لور به دي د تلو ضرورت څه وي

چي دي مې د يوه عشق نه دي څکلي

فايده نه کړي که دي ويني وي پرېوللي

قاضي غواړي د قرآن د منځ له تورو

چي ښوونکی رهنما سي لا د نورو

خو که هغه مينه نه لري په زړه کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونه به څه ګټه ورته وکي

کر هر څونه وي استاد د انسانانو

برابر نه دی پر لور د عاشقانو

که جوګي وي سرو جامو کي ځان پېچلی

خو د میني په رنګ نه وي پوهېدلی

THE flute of the Infinite is played without ceasing, and its sound id love:

When love renounces all limits, it reaches truth.

How widely the fragrance spreads! It has no end, nothing stands in its way.

The form of this melody is bright like, a million suns: incomparably sounds the vina, the vina of the notes of truth.

د حق شپېلۍ

پاس د لایتناهي شپېلۍ رغېږي

له نغمې یې رغ د عشق اورېدل کېږي

چي له ټولو سرحدونو مینه واوړي

نو مقام د حقیقت ته وررسېږي

بوی د عطرو تر کوم ځایه پوري ولاړ سي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې پای سته نه مخ ته څه درېږي

د نغمې شکل يې دونه وي روښانه

لکه يو ميليون لمرونه چې ځلېږي

د نغمو يې په ناسوت کې ساری نسته

له سارنګه چې د حق ږغونه زېږي.

WHO are you, and whence do you come?

Where dwells that Supreme Spirit, and how does He have His sport with all created things?

The fire is in the wood; but who awakens it suddenly? Then it turns to ashes, and where goes the force of the fire?

The true guru teaches that He has neither limit nor infinitude.

Kabir says: "Brahma suits His language to the understanding of His hearer."

ته څوك يې له كومه راغلې

ته يې څوك له كومه راغلې دا احوال درمعلومېږي؟

او ستر روح د كايناتو اوس په كوم ځای كې هستېږي؟

لوی خالق په څه لګيا دی د قدرت په پاچاهي كې

او په لاس كې مخلوقات يې څنګه رنګ په رنګ لوبېږي

د ځنګله په غېږ كې وينې لوی اورونه لګېدلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د کوم زور کرشمه ده یو ناڅاپه چي بلېږي

بیرته خاوري سي ایرې سي سره اورونه سرې سکروټې

د اورونو طاقت څه سو دا په کوم ځای کي ډوبېږي

حقیقي مرشد درښیي چي هغه لره حد نسته

نه یې زور ته انتهی سته نه قدرت یې فنا کېږي

کبیر وایي خالق داسي ژبه ځانته غوره کړې

چي د چا په غوږ یې اوري هغه خامخا پوهېږي.

THE Hidden Banner is planted in the temple of the sky; there the blue canopy decked with the moon and set with bright jewels is spread.

There the light of the sun and the moon is shining: still your mind to silence before that splendour.

Kabir says: "He who has drunk of this nectar, wanders like one who is mad."

پټ بیرغ

پټ بیرغ دی په آسمان کي وهل سوی او رپېږي

هلته شین چتر ښایسته دی د سپوږمۍ په نور ځلېږي

پري روښاني ځلېدلي مرغلري غوړېدلي

نور د لمر او د سپوږمۍ دی چي لمن کي یې پرکېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا دي بيا هم زړه قرار دی لا خاموش يې ورته ګورې

دومره لوی شان او شوکت دي هره ورځ مخکي تېرېږي

کبير وايي دا اوبه چي د حيات وي چا نوشلي

لېونی غوندي به ګرځي په دنيا به نه خبرېږي.

I LAUGH when I hear that the fish in the water is thirsty:

You do not see that the Real is in your home, and you wander from forest to forest listlessly!

Here is the truth! Go where you will, to Benares of to Mathura; if you do not find your soul, the world is unreal to you.

حقيقت په کور کي

چي يې اورم ماهی تږی دی اوبو کي

خندا راسي ورته ډوب سم په فکرو کي

حقيقت په کور کي نه ويني په سترګو

سرګردانه پسي ګرځي په ځنګلو کي

بنارس او متوره که تر پښو لاندي

ښار پر ښار ګرځه په لويو معبدو کي

که خپل روح پکښي پيدا نه کړې نو واوره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دپاره دا نړۍ ده په تیارو کي.

RECEIVE that Word from which the Universe springeth!

That word is the Guru; I have heard it, and become the disciple.

How many are there who know the meaning of that word?

O Sadhu! practice that Word!

The Vedas and the Puranas proclaim it,

The world is established in it,

The Rishin and devotees speak of it:

But none knows the mystery of the Word.

The householder leaves his house when he hears it,

The ascetic comes back to love when he hears it,

The Six Philosophies expound it,

The Spirit of Renunciation points to that Word,

From that Word the world-form has sprung,

That World reveals all.

Kabir says: "But who knows whence the Word cometh?

مرشد یو نوم دی

یو حرف دی په جهان کي کاینات ترې نه راغلي

هغه د مرشد نوم دی ما پخپله اورېدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپله یې مرید سوم او حیران یمه عالم ته

چې نور به یې لا څونه په معنی وي پوهېدلي

زاهد که په ریشتیا یې په معنی یې ځان خبر که

ویدا او کتابونه په دې نوم دي نازېدلي

نړۍ د دغه حرف له برکته ده ولاړه

پوهان که ملایان دي ټول جلا پرې رغېدلي

خو څوك یې لا تر اوسه خبر نه دي په اسرارو

مخلوق یې په تعبیر پسې کورونه پرېښودلي

له مینې قلندر له نیمې لارې راستنېږي

علوم په سترې سوې دې مزلونه یې وهلي

چې ترکه څوك دنیا کړې د معنی پر لور روان سي

له دې نومه رنگونه د نړۍ دي ټوکېدلي

کبیر وایي دا نوم د تعبیرونو خزانه ده

خو نوم او تعبیرونه له کوم ځایه دي راغلي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



HE is the real Sadhu, who can reveal the form of the Formless to the vision of these eyes:

Who teaches the simple way of attaining Him, that is other than rites of ceremonies:

Who does not make you close the doors, and hold the breath, and renounce the world:

Who makes you perceive the Supreme Spirit wherever the mind attaches itself:

Who teaches you to be still in the midst of all your activities.

Ever immersed in bliss, having no fear in his mind, he keeps the spirit of union in the midst of all enjoyments.

The infinite dwelling of the Infinite Being is everywhere: in earth, water, sky, and air:

Firm as the thunderbolt, the seat of the seeker is established above the void.

He who is within is without: I see Him and none else.

ریښتونی زاهد

زه به هغه زاهد ریښتونی ګڼم

چي راته رنګ د بېرنګیو ښیي

چي ساده لاره د محبوب د وصل

بې کړاوونو بې خواریو ښیي

هغه زاهد چي راته ونه وایي

چي د خلوت په تاریکو کي کښېنه

نفس دي بند که له جهانه لیري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر پر زنګون په تورو غرو کي کښېنه

وايي په هغه ځای کي اوسي خالق

چي يې پيوند وهي له ذاته زړونه

هغه د مځکي په هستي کي ګوره

هسي نه پرېږدي د دنيا کارونه

هغه چي مينه د محبوب يې واخلي

په زړه کي نه ورګرځي بېره د چا

هغه د وصل په تلاښ وي همېش

هره خوښي کي دا يوه مدعا

WHAT is that flute whose music thrills me with joy?

The flame burns without a lamp;

The lotus blossoms without a root;

Flowers bloom in clusters;

The moon-bird is devoted to the moon;

With all its heart the rain-bird longs for the shower of rain;

But upon whose love does the Lover concentrate His entire life?

اصلي مينه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه شپېلۍ ده چي آواز پورته کي
او له خوښۍ مي وجود ولړزېږي

یوه لمبه ده بې څراغه سوځي
او نیلوفر بې ریښو وغوړېږي

غونچې_غونچې راځي تازه ګلونه
مرغۍ پرواز کړي د سپوږمۍ په شپه کي

او د باران مرغه له ځالي وزي
لري آرزو د توند باران په زړه کي

مګر اصلي د هغه چا مینه ده
چي پر جنون یې د لیلی مینه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



9

THERE is a strange tree, which stands without roots and bears fruits without blossoming;

It has no branches and no leaves, it is lotus all over.

Two birds sing there, one is the Guru, and the other the disciple:

The disciple chooses the manifold fruits of life and tastes them, and the Guru beholds him in joy.

What Kabir says is hard to understand: "The bird is beyond seeking, yet it is most clearly visible. The Formless is in the midst of all forms. I sing the glory of forms."

بې ريښو ونه

عجيبه ونه ده ولاړه ده ريښې نه لري
مېوه لري خو په هيڅ وخت کي شګوفې نه لري

له سر تر نوکه نيلوفر دی بل څه نسته پکښې
پاڼي يې نه سي څوك ليدلای او ښاخلې نه لري

پکښې جوړه دوه مرغان ناست په ترانو لګيا دي
يو يې مرشد بل يې مريد دی په نغمو لګيا دي

مريد يې اخلي له دې وني د ژوندون څو مېوې
يوه_يوه رسوي خولې ته ورنه اخلي مزې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پير د مريد له ننداري څخه خوندونه اخلي

هغه د وني له مېوو څخه پندونه اخلي

څه چي كبير وايي په دي پوهېدل نه دي اسان

مرغه په لاس نه سي درتللای خو څرګند دی عيان

هغه بېرنګه د رنګونو په مابين كي ستايم

زه يې سندري د رنګونو د ستايلو وايم.

O SADHU! purify your body in the simple way.

As the seed is within the banyan tree, and within the seed are the flowers, the fruits, and the shade:

So the germ is within the body, and within that germ is the body again.

The fire, the air, the water, the earth, and the aether; you cannot have these outside of Him.

O, Kazi, O Pundit, consider it well: what is there that is not in the soul?

The water-filled pitcher is placed upon water, it has water within and without.

It should not be given a name, lest it call forth the error of dualism.

Kabir says: "Listen to the Word, the Truth, which is your essence. He speaks the Word to Himself; and He Himself is the Creator."

اې زاهده ځان دي پاك كه

اې زاهده ځان دي پاك په ساده لار كه

څه چي وايم راسه غوږ مي پر ګفتار كه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه زنې چي په منځ کي دی د ونو
او په زنو کي ښکلا ده د ګلونو

د ګلونو منځ کي رنګ په رنګ مېوې دي
داسي زنو کي هم وني هم سایې دي

په وجود کي چي نطفې دی ځای نیولی
په نطفه کي داسي بل وجود اخښلی

که څه اور دی که اوبه، مځکه، بېدیا ده
که هوا ده که خلا ده که فضا ده

له خالقه څخه نه سي بېلېدلای
له هغه یې جلا څوك نه سي لیدلای

که قاضي یې که پنډت دا حقیقت دی
چي تر روح دباندي څشي واقعیت دی

چي په ډنډ کي له اوبو لوښی ډکېږي
او پر سر د اوبو بیرته خوشي کېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



GORAKHNATH asks Kabir:

"Tell me, O Kabir, when did your vocation being? Where did your love have its rise?"

Kabir answers:

"When He whose forms are manifold had not begun His play: when there was no Guru, and no disciple:

when the world was not spread out: when the Supreme One was alone-

Then I became an ascetic; then, O Gorakh, my love was drawn to Brahma.

Brahma did not hold the crown on his head; the god Vishnu was not anointed as king; the power of Shiva was still unborn; when I was instructed in Yoga.

I became suddenly revealed in Benares, and Ramananda illumined me;

I brought with me the thirst for the Infinite, and I have come for the meeting with Him.

In simplicity will I unite with the Simple One; my love will surge up.

O Gorakh, march thou with His music!"

کبیر کله زاهد سو

لوی مرشد له کبیر وکړله پوښتنه
کیسه تېره له پخوا کړه بیا تر ننه

کله تا د ژوند پيل کړي دي کسبونه
کله میني در مست کړي دي رگونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبير وايي هغه وخت چي په دنيا کي

زما بې رنګه رنګين خدای په مافيها کي

د خلقت هنوز پيل کړې نه وه لوبه

نه مرشد و نه مريد نه د چا سوبه

چي جهان لا هنوز نه وو غوړېدلی

ستر خالق چي لا يوازي اوسېدلی

زه هغه وخت کي زاهد ومه زما ميني

د برهما په زړه کي مستي کړلې ويني

چي برهما لا پر سر تاج نه وو منلی

چي ويشنو لا پر تخت نه وو کښېنستلی

چي شېوا پر جهان نه وو زبېږېدلی

ما ته درس وو د خپل ذکر رسېدلی

BEFORE the Unconditioned, the Conditioned dances: "Thou and I are one!" this trumpet proclaims.

The Guru comes, and bows down before the disciple:

This is the greatest of wonders.

حقيقت او مجاز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مطلق حقيقت مخکي مجاز ناځي

له شپېلۍ يې دا يوه ترانه پاځي

زه او ته يو دواړه يو نه جلا کېږو

يو وجود يو يو له بله نه بېلېږو

مرشد راسي د مريد مخکي کږېږي

دا تر ټولو عجايبه معلومېږي.

MY Lord hides Himself, and my Lord wonderfully reveals Himself:

My Lord has encompassed me with hardness, and my Lord has cast down my limitations.

My Lord brings to me words of sorrow and words of joy, and He Himself heals their strife.

I will offer my body and mind to my Lord: I will give up my life, but never can I forget my Lord!

زما خالق

زما خالق پټوي ځان له مخلوقاتو

بيا عجيب سي راڅرګند پر کايناتو

هم خالق يم ځنځيرونو کي تړلی

هم آزاد يې له هر بنده يم ايستلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خالق راته راوړي هغه لفظونه

پکښي نغښتي چي خوښۍ دي هم غمونه

دی پخپله رغوي ټوله دردونه

په قدرت کراروي د دوی جنګونه

زه به ځان او زړه خالق ته وربخښمه

زه به ټوله ژوند تر ده قربانومه

خو په ژوند کي به خالق نه هېرومه

نه په زړه کي بل خالق ته ځای لرمه.

O BROTHER, my heart yearns for that true Guru, who fills the cup of true love, and drinks of it himself, and offers it then to me.

He removes the veil from the eyes, and gives the true Vision of Brahma:

He reveals the worlds in Him, and makes me to hear the Unstruck Music:

He shows joy and sorrow to be one:

He fills all utterance with love.

Kabir says: "Verily he has no fear, who has such a Guru to lead him to the shelter of safety!"

رېښتونی مرشد

په آرزو د هغه پیر یمه یارانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ريښتوني ميني جام ډك كړي دوستانو

هم پخپله يو ډك جام كړي پر سر پور ته

هم يوه پياله راواړوي زما لور ته

چي مي ليري كي له سترګو نقابونه

د خالق راكړي ريښتوني تصويرونه

راڅرګند كړي ناليدلي جهانونه

په ما واوري په پردو كي ورك سازونه

راته يو ښيي خوښۍ دي كه غمونه

او له ميني مالامال يې وي لفظونه

كبير وايي هغه څوك به وي منلی

چي يې داسي پير په برخه رسېدلی

ډار يې نه وي پر دنيا له خطرونو

چي مرشد يې اړوي له ګړنګونو.

ALL things are created by the Om;

The love-form is His body.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



He is without form, without quality, without decay:

Seek thou union with Him!

But that formless God takes a thousand forms in the eyes of His creatures:

He is pure and indestructible,

His form is infinite and fathomless,

He dances in rapture, and waves of form arise from His dance.

The body and the mind cannot contain themselves, when they are touched by His great joy.

He is immersed in all consciousness, all joys, and all sorrows;

He has no beginning and no end;

He holds all within His bliss.

هغه د هر څه خالق دی

جهان ټوله له خالقه دی راغلی

د هغه وجود له میني دی جوړ سوی

هغه ذات دی هم بې رنګه هم بې کیفه

نه په ذات کي یې نقصان دی چا لیدلی

عمر تېر کړه په تلاښ د یو کېدلو

له خالق سره د ځان د وصلولو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بې رنگه خالق زر اخلي رنګونه

د مخلوق سترګي يې نه ويني شکلونه

ذات يې پاك دى او خالص تل يې بقا ده

نه يې ذات ته انتهى نه يې فنا ده

په نڅا کي د جذبې اخلي رنګونه

له نڅا يې رنګ په رنګ پاڅي موجونه

چي مستي د ده د ميني وررسېږي

نه وجود او نه زړګی په تورن کېږي

هغه ګډ دی په خوديو په فکرونو

په خوښيو په مستيو په غمونو

نه آغاز نه يې انجام چا ته عيان دى

په قدرت کي يې ساتلی ټول جهان دی.

To what shore would you cross, O my heart? There is no traveler before you, there is no road:

Where is the movement, where is the rest, on that shore?

There is no water; no boat, no boatman, is there;

There is not so much as a rope to tow the boat, nor a man to draw it.

No earth, no sky, no time, no thing, is there: no shore, no ford!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



There, there is neither body no mind: and where is the place that shall still the thirst of the soul? You shall find naught in that emptiness.

Be strong, and enter into your own body: for there your foothold is firm. Consider it well, O my heart! Go not elsewhere,

Kabir says: "Put all imaginations away, and stand fast in that which you are."

ته کومي غاړي ته ځې

کومي غاړي ته روان يې زما زړګيه
در په برخه کوم سيندونه کوم رودونه

نه د لاري نه د منزل څرك يې لګېږي
نه پرې کړي مسافرو سفرونه

هلته نه د حرکت درك لګېږي
نه د سيالي چا جوړ کړي دي ځايونه

نه اوبه سته نه کښتۍ پر هغه غاړه
او نه هلته کښتۍ وان ځاري موجونه

نه تناو سته د کښتۍ د کشولو
نه څوك سته چي يې راکش کړي تناوونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ساحل سته نه يې مځکه اسمان ښکاري

نه خواږه سته نه يې شماري څوك وختونه

هلته نه د چا بدن سته نه يې مغز

تنده څنگه ماتوي د خلکو زړونه

هلته هر څه نېستي سوي په خلا کي

نه وجود سته نه د خلکو آوازونه

په پوره زړه خپل وجود ته سه دننه

په هغه مکان کي ټينگ لره گامونه

بلي خوا ته چي ترې ولاړ نه سې زړگيه

په همدې مکان کي ټينگ وساته ملونه

چي ولاړ يې په هغه مکان کي ټينگ سه

کبير وايي ليري پرېږده ټول خيالونه.

د خدای مينه

زه چي مست يمه په مينه زه پر څه خبري کړمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي الماس مي دی په لاس کي غوټه ولي خلاصومه

چي خالي وې له اوله اوس هغه پلې دي ډکي
اوس يې ځله اندازه کم چي درنې دي او که سپکي

عقل مست سو له شرابو چي چنبلي يې پيالې دي
هوښ نوشلي له دې خمه سر پر بې اندازې دي

چي تر سينده ده راغلې سپينه بته کړه غاړه
لا د ځشي په تلاښ ده په ډنډونو کي ولاړه

خدای پخپله ستا په ځان کي لټوې يې په بهر کي
کبير وايي خلکو واورئ سړی ولي ځان ابتر کي

ما چي خدای دی پېژندلی د مخلوق زړونو سينو کي
داسي دی لکه چي تېل وي د شړشمو په دانو کي.

د رباب مرموز ږغونه

له رباب څخه مرموز موزيك ږغېږي
بېله پښو او بې لاسونو څوك نځېږي

بېله ګوتو يې آواز كوي تارونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې غوږونو يې نغمه اورېده کېږي

او دا ځکه چي که غوږ دی تړوله دئ دی

اورېدونکی هم پخپله دئ، هستېږي

ورتړلی دی دننه خوشبويي ده

او دننه هيڅ وجود نه معلومېږي

هر څوك نه دی د دې سِر د پوهېدلو

دا يوازې هوښياران دي چي پوهېږې.

لامکان

په هغه ځای کي چي ملگرو زما محبوب اوسېږي

له هغه ځای سره سيالي مکان کولای نه سي

هلته نه غم سته نه خوښي نه حقيقت نه دروغ

څوك د گناه او د پرهېز نښي ليدلای نه سي

هلته نه ورځي سته نه شپې نه پکښي لمر يا سپوږمۍ

هلته ځلا ده د نور څرك يې څوك ايستلای نه سي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه معرفت سته نه چا سر پر زنگانه ايښی دی

رياضت نسته او وردونه څوك ويلای نه سي

نه نصيحت سته د ويدا له كتابونو څخه

څوك ښه او بد امر او نهي پېژندلای نه سي

هلته نه كور نه بې كوري سته نه دننه بهر

پكښي مفهوم وړه ذره او لوی جهان نه لري

نه د پنځو لمونځونو نوم سته نه صليب پېژني

پكښي مذهب او عقيده هلته نښان نه لري

هلته ريښې گل او ښاخلې او زنې نه سې ليدای

مېوې يې سته خو مگر وني پكښي نه لوېږي

نه څوك هندو نه په سينو كي نفسونه دي بند

دا ټوله نسته د نفس نوم پكي نه ځايېږي

هلته محبوب دی نور عدم دی د وجود نېستي ده

كبير په دغه حقيقت ښه پوهېدلی يمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوك چي زما د اشارې نښه په سترګوويني

د ازادۍ په سرمنزل يې پوهېدلی يمه.

نهايي خوښي

بتي ژر يې راته وايه خپله تېره افسانه دي

ته له کومه ملکه راغلې راته ښيه آشيانه دي

کوم ساحل ته دي پرواز دی ځې تر کومو وطنونو

هم کيسه د وطن وکه هم د خپلو هدفونو

بتي نن سهار راکښېينه له اوږدو_اوږدو خوبونو

زما پر لاره سه روانه زما پر لور د منزلونو

داسي خاوري ته به ولاړ سو چي واك نه لري غمونه

هلته وېره د مرګ نسته مرګی نه وهي سرونه

هلته کور د پسرلي وي شنه ځنګلونه غوړېدلي

هلته "دی_ زه يم" ذکرونه له نسيم سره اودلي

هلته زړونه داسي مست وي د خوښيو له شرابو

چي درپاته نوري نه وي د مستۍ او خوښۍ هيلي.

معرفت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت نه دی په سترګو چي يې وينو

هغه ښکلي دی موږ هيڅ نه سو ويلای

باور نه راځي هيڅکله بې ليدلو

بې ويلو په هيڅ نه سو پوهېدلای

هوښياران په زور د علم په پوهېږي

ناپوهان لکه ړانده تل به کړېږي

څوك پراته بې شکله خدای ته پر سجده دي

څوك يې رنګ په رنګ شکلونه ته کږېږي

ولي خدای لږ دی تر دغو صفتونو؟

يو دانا يې دی قابل د جوابونو

چي نغمه څوك پر کاغذ نه سي ليکلای

د هغې توري څوك نه سي پېژندلای

کبير وايي دا يوازي معرفت دی

بريالی چي همېشه پر جهالت دی.

زه چيري يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيري مي غواړې زه له تا سره يمه

نه په زيارت نه بتخانو کي يمه

نه په تاريکو خلوتو کي يمه

نه درمسال نه مسجدو کي يمه

نه په کعبه نه صومعه کي يمه

چېري مي غواړې زه له تا سره يم

نه په لمانځه کي نه په ذکر کي يم

نه په روژه کي زه له چا سره يم

نه زه د جوګ تمرين کي چا ليدلی

نه رياضت کي مي دی ځای نيولی

نه په قوه نه په بدن کي يمه

نه د فضا په نازك تن کي يمه

نه طبيعت کي مي دی کور جوړ کړی

نه د نفس په انجمن کي يمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځير مي ولټوه کشف مي که

ما په وجود کي د شېبې لټوه

وايي کبير په غور غوړ ونيسه

چي ستا ايمان دی ما هورې لټوه.

وايي کبير په غور غوړ ونيسه

چي ستا ايمان دی ما هورې لټوه.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**